# په سراج الخبار کې د پښتو شعر

Ketabton.com

لیکوال: پوهنیار محمد شاپور "احمد زی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد شاپور "احمد زی" د احمد جان زوی په ۱۳۴۰ کال د لوگر ولایت د سرخ آب په کلي کې زېږېدلي.
خپلې لومړنۍ زده کړې يې د سرخ آب په متوسطه او بيا د عامې ادارې له مسلکي ليسې څخه فارغ شوئ دئ.
ليسانس او ماستري يې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگي څخه تر لاسه کړي دي. د ۱۳۶۳ کال په وروستيو کې د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د پښتو څانگي په علمي کدر کې د استاد په توگه مقرر شو.
په ۱۳۶۴ کال کې ننگرهار پوهنتون ته تبديل او د دغه پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د رئيس او استاد په توگه يي دنده تر ۱۳۶۷ کال پورې ترسره کړه. په ۱۳۶۷ کال کې پاکستان ته مهاجر شو. او بيا د ۱۳۶۸ کال په اواخرو کې استراليا ته مهاجر شو.اوس په استراليا کې د ژباړن او ترجمان په توگه کار کوي.

او دا هم د ليکوال د غزل يوه بيلگه :

دئ فساد رشوت روان په ادارو کې
نشته رحم د کاتب رئيس په زړو کې
خداي د مکره د چارواکو سره کار بند
خلاص به نشي هم په مياشتو په کلو کې
که ترې وپو ښتې دا کار مې ځنگه کيږي
وايي ته پيسې ډالر لرې جيبو کې
که پيسې وي خلاصوو د کار په منډه
بې پيسو د ځنډوو ډېر په وعدو کې
هم دې ليږو له يوه دفتره بل ته
تر څو ستړی شې په تلو او په راتلو کې
يا خو دا چې به له چانه پيسې پور کړې
يا خو نه خلاصيږي کار نژدې وختو کې
دلته حق دئ خوړل کيږي د بې وزلو
نا حق حق دئ احمد زيه په پيسو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرليکونه

۱ - سريزه ۱-۷
۲ - دشعرونو مجموعه ۸ - ۷۴
۳- داوسنی اوسراج الاخباررسم الخط پرتله ۷۵ – ۷۷
۴- نتيجه ۷۸
۵- ۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

له ۱۹۱۱ تر ۱۹۱۹ کال پورې سراج الاخبار دافغانستان په مطبوعاتو کې ستر رول لوبولئ دی. او ډېر شاعران اولیکوالان یې دې ته هڅولي، چې قلم را واخلي او دپښتو ژبې او ادبیاتو له پاره خدمت وکړي. سراج الاخبار دافغانستان په ادبیاتو کې یو نوی تحول رامنځ ته کړ، او هغه داچې سراج الاخبار په ادبیاتو کې دنوې دیموکراسۍ لاربښوونه کړې ده ، په ټولنیز بدلون کې یې خپل رول لوبولئ دی . چې په دې برخه کې دهیواد دخلکو راویښول داقتصادي او کلتوري مسایلو له پاره په کلکه مبارزه ،اودخلکو شعورته وده ورکول رابرسیره شوي وو. په دی ډول دسراج الاخبار جریدې دافغانستان خلکو ته ډېر زیات عرفاني خدمت کړئ دی .په همدغه وخت کې پښتو ژبې په چټکتیا سره ګامونه پورته کړه. دسراج الاخبار په پاڼو کې دپښتو شعرونه ،متلونه اودنثر ټوټې چاپ شوي دي. هغه شاعران اولیکوالان چې د(ځوانانو افغانانو ) یادمحمود طرزي په قول داخوان افغان په سیاسي نهضت کې شامل وو. دوی دخپل وخت داسې خلک ووچې ځانونه یې په عصري علومو سمبال کړي وو، چې ددې دورې یومشهور روشنفکره شاعر غلام محی الدین افغان دی .غلام محی الدین افغان دسراج الافغانیه ورځپاڼې ، چې په حقیقت کې دخپل وخت دمترقي او ازادي غوښتونکو افکار و یوه خپرونه وه، یولیکوال اوشاعر وو، داسې لیکوال اوشاعروو چې لیکنې اوشعرونه یې دمترقي نهضت په پیاوړتیاکې ستر رول ولوباوه. دپښتو ژبې اوادبیاتو په پراختیاکې یې اوچت ګامونه پورته کړي دي. غلام محی الدین افغان دلومړی اودوهم مشروطیت فعال غړی اودهغه کلپ له مؤسسینو څخه شمیرل کیږي، چې ظاهراً یې ذوقي اوتفریحي بڼه لرله ولې په حقیقت کې په هغه کې سیاسي فعالیتونه پرمخ بیول کیدل.

غلام محی الدین افغان په اتو ژبو باندې ښه پوهیده اودپښتو اوفارسي په ادب کې ددیني مطالعې خښتن وو.

افغان اودهغه وخت ټولو شاعرانو اولیکوالانو لکه عبدالهادي داوي، مولوي صالح محمد ،عبدالسلام اونوروا اوچت ګامونه دعلم اوپوهې درواجولو په برخه کې اخیستي دي. دوی دعلم خوا نیولې وه علم اوپوهه یې ستایله ، خلک یې دعلم سره اشنا کول ، خلکو ته یې دعلم اوپوهې ارزښت څرګند اوه، او بالاخره خلک یې دې ته رابلل چې په علم اوپوهې ځانونه سمبال کړي، اوځانونه دجهل اوسکون څخه را وباسي، دجهل اوسکون غندنه یې کوله، خلک یې دې ته هڅول چې دنوي عصر له نویوپدید وسره اشنا شي دنوي عصر ستایونکي وو. دوی ټولو ټولنیزه وده اوتکامل غوښته، دغوټول دټولنیزې ودې اوتکامل په



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتلوکې سره متحد وو. اوټولو لیکوالانو اوشاعرانو خپلې ژبې شعراوادب ته خدمت کړۍ دئ .

غلام محی الدین افغان کومی لیکنې چې کړي، اویایې چې کوم شعرونه ویلي دي، هغه په خپلو اثاروکې ژوند داسې ترسیم کړۍ، چې یوه واقعي بنه یې لرله یعنی ژوند یې په حقیقی توګه په خپلو اثاروکې ترسیم کړۍ دی، چې داخبره موږ دده په ځینو شعرونوکې وینو.

غلام محی الدین افغان کوم شعرچې د ۱۹۱۴ کال داکتوبر په څلورم تاریخ په سراج الاخبارکې نشرشوئ دی . په دې شعرکې ده داپه ډاګه څرګنده کړې ده، چې په ټولنه کې ټولنیز اختلافونه شته، چې یوه طبقه یې د بلې طبقې پرضد درېږی ،اوپه ټولو مسایلو کې اتحاد اویووالی نشې کولای، یعنې یوه طبقه یوڅه غواړي اوبله طبقه بل څه، چې ده دخپل وخت ټولنیز اختلافونو درک کړي اودایې څرګنده کړې ده چې دازادی اواستقلال د ګټنې له پاره هم ټول افغانان په یوه سنګرکې درېدلای نشي نو ځکه یې پورتنی مفکوره په لاندې شعر کې په دې ډول بیان کړې ده .

ځمکه خپله رود موخپل دهقان موخپل دی
شاموخپل ګدا مو خپل قاضي موخپل دی
سپاه خپل رعیت موخپل دیوان موخپل دی
غل موخپل قاتل موخپل مقتول موخپل دی
حبس خپل مفتی خپل زندان موخپل دی
پردی نشته ګرد ه خپل یو شکروکې...

د۱۹۷۱ کال دجنورۍ په ۱۷ تاریخ په سراج الاخبارکې دده یو شعردترجیح بند ذوالقافیتین ترعنوان لاندې نشر شوئ دئ، چې دخپلو خلکو دژواندانه واقعیتونه یې په کې ترسیم کړي دي دخلکو ژوند یې په رښتیني ډول ترسیم کړئ چې داشعرپه دې ډول پیل کیږي:

موږ بنه تعلیم یافته وای داثار
هم کامل وای په صنعت دکار زار
اوس زموږ به وای په دنیاکې اقتدار
هم به زموږ وای ډېر همت په ټول کفار
کل جهان دی رسیدلی ومقصد ته په مدار



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر موږ خويو په خوب کې لاتراوسه دسهار

په دې ترجيح بند ذوالقافيتين کې غلام محی الدين افغان دخپلې ټولنې اوخلکو دبيرته پاتې والي عوامل په۳۵ بيتونوکې شرحه کوي. د ساري په توګه : دخپلو وطنوالو بيسوادي ، فقر، غريبي اوبيچاره ګي ، دعالمانو دعلم لږوالی داوسينوعلوموسره دخلکونا اشنايي، دملت دزراعت بيرته پاته والی، اوله ابتدايي وسايلو څخه په زراعت کې کاراخيستل ،دنوروملتونو دزراعت پراختيا اوپه معاصر تخنيک سره له لږ ځمکې څخه ډېرحاصل اخيستل، په نوروهيوادونوکې اوداسې نورمهم پرابلمونه شرح کوي . ددوی په دې حالت باندې ليکوال افسوس کوي اوکله چې دخپلو وطنوالودې ويجاړ حال ته ګوري نوخپله خواشيني دغه ويجاړحالت سره يوکوي اوموضوع ترسيموي.

پو هاند عبدالحی حبيبي څو کاله پخوا دغلام محی الدين افغان دفکري تجدد په برخه کې داسې ليکلي وو:

،.... شپيته کاله پخوا زمانه درپه ياد کړئ ،هغه وخت چاپښتوشعرنه وايه اوکه هم څوک په دې فکر کې وو، هغه به درحمان اوخوشحال پيروي کوله، دتوروزلفو په شکنجه کې به نغښتی وواودبنو په غشي په ژوبل وو، دشعرموضوع اومحتوی يوزرکاله دغسې راغلي وه، اوخلک هم په دغه لارتلل يو وارنابيره غلام محی الدين افغان دشعرمجرا بدله کړه، اوپه ۱۳۳۳ هـ ق کال کې يې په سراج الاخبارکې دکوم خيالی محبوب داوږدوزلفواو ښکلي مخ اوهلال ابرودستايني پرځای دوطن په حقيقی دلبرپوري داسې بدله وويله :

زړه زما ډک دی له مينې دوطن
خپل وطن ماته عزيز دی ترخپل
تــــــــــــن

داموضوع اوس موزته نوې نه ښکاري، اوښايي چې ډېرځلمي يې دبيان يوفرسوده اومبتذل طرزوبولي اوله فکري پلوه يې هم خوښ نه کړي، مګر په هغه وخت کې بالکل نوي اوښايي چې شاعربه دپخوانی خيال اودزاړه مکتب پيروان ډېر غندلي وي، چې ولې درحمان بابا لاهوتي فکر په داسې زميني فکر اوموضوع بدلوي.



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۱۱ کال دجنوري په ۱۱ نیټه دمحمود طرزي په مدیریت دسراج الاخبار مشهوره جریده نشر شوه. عبدالهادي داوي چې په هغه وخت کې دحبیبې دمکتب شاګرد وو، دغې جریدې ته دطرزي په غوښتنه انتخاب شو اودده سره دري تنه نوردواطلب شاګردان عبدالرحمن لودین ، فیض محمد ذکریا ، اومحمد بشیر هم سراج الاخبارته ولیږل شول. داوي دجریدې دمحررو‌ظیفه اجراکوله، اوهم یې داردوژبې نه سراج الاخبارته مضمونونه اومقالې ترجمه کولې، په سراج الاخبارکې دداوي فعالیت ادامه درلوده ترڅو چې په ۱۹۱۸ کال کې دامیرپه امربندی شو. داوي دمحمود طرزي تکړه شاګرد اوفکري ملګری وو. چه دهیواد دترقي له پاره یې دهغه وخت په سیاسي اوادبي مبارزه کې مهم رول په غاړه درلود . دی دخپلې ورځپاڼې په ټولنیز ارزښت ډېر ښه پوهیده نوځکه دهغه ستاینه یې په یوه مثنوي کې بیان کړې ده چې د ۱۹۱۴ م کال دجنوري په ۱۵ تاریخ خپورشو چې مطلع یې داسې ده:

اخبارهرملت ته جانه
ضروري ده وا وره مانه
دملت منافع غواړي
پرغمودملت ژاړي

همدا ډول په همدې ګڼه کې داوي دخپلې مورنۍ ژبې په خوږوالي ، رواني اوفصاحت ،متانت اوپراخوالي باندې یوبل مثنوي شعرلري چې دالاندې څوبیتونه یې د نمونې په توګه را اخلم:

پښتو ژبه شرینه
هم فصیحه هم متینه
قواعد یې خوارښه دي
قواعدیې هم لږنه دي

داوي که په دې شعرکې له یوې خوا دخپل ولس د ملي ترقي له پاره دمورنۍ ژبې موثریت اواغیزه په ګوته کوی، نودبلې خواځخه داشعردهغه چا ځواب هم وو، کومو چې پښتوژبه دافغان ولس دکلتورد لوړتیا اوترقي له پاره اساسا مساعده نه ګڼله، په هغه زمانه کې یولږ داسې کسانو فکر کاوه چې دغه ژبه د وولسونوترمنځ دښه افهام اوتفهیم وسیله نشي کیدای، ځکه چې قواعدیې ترژبني قانون لاندې نه راځي. دغې مهمې کلتوري مسئلې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته داســـتقلال دګټلو نه پخوا ډېرو مترقي شـــاعرانو اوليکوالانو جدي توجه راوګرځوله. که مولوي صـــالح محمد په خپل پښـــتو مکتوب کې دپښـــتو ژبې په تاريخي بدبختۍ وژړل ، نوعبدالهادي داوي په خپل مثنوي شـــعرکې دخپلې مورنۍ ژبې ســـتاينه وکړه، اوهمدا وايي چې فارســـي شـــعرهم لري، ولې هغه دپښـــتو هم پايه نه دئ ځکه چې په مورنۍ ژبه کې هنرمند باطني احساسات ښه څرګندولای شي اوداسانه لاره نه ده .

د شـــلمې پيړۍ په پيل کې دافغانســـتان دفکري تجددعلمبردارمحمود طرزي، دخپلې جريدې ددوهم کال د دلوې په نهمه ګڼه کې دپښـــتو ژبې مســـئله (زبان افغاني زبان اجداد زبانهاســـت ) ترعنوان لاندې مطرح کړه دهغه په اړيايي توب يې مطالعات پيل کړل. ددې ليکنې نه وروسته پښتو څېړنې له يوه کال څند سره مخامخ شوې، ولې په ۱۲۹۳ کال کې بياله ســره پيل شــوې. دهمدې کال دســرطان په څلورمه دســراج الاخبارپه شــلمه ګڼه کې عبدالرحمن لودين داسې وليکل : ،، سراج الاخبار به زبان فارسي طبع ونشرميشود چون همواره مساعى درنشر واشاعات علوم ومعارف است به السنه مروجه افغانستان لهذا سراج الاخبار افغانيه اين شما ره وشماره هاى بعد خود را بزبان ملي خودنيز تزئين ميدهد.،،

دســـراج الاخباردمطالعې نه معلومېږي چې په هغه جريده کې دپښـــتو شـــپږکلنه ونده، اګر چې دومره زياته نه وه، ولې ترټولو مهمه داوه چې دپښتونشراتوله پاره دپښتو ژبې په تاريخ کې، ديوه نوي فصل په حيث لار خلاصه شوه، هغه داچې خلک دخپلې ژبې او ژبه دخپلوخلکو سره وتړل شوه . محمود طرزي همدغه موضوع ته دسراج الاخبارپه ۱۳۹۶ کال دجوزا په دوهمه ګڼه کې داسې ګوته نيسي :

،،ادبيات ملي، فارســـي ،افغاني هرقوم بزبان خود وهرزبان به ادبيات خود زنده است.،،

ددې دورې بل مشهورشاعرمولوي صالح محمد دمحکوم افغان حالت ، په قفس کې د بندي بلبل ســره مقايســـه کوي، ددې اثرقهرمان دازادۍ څخه لاس نه اخلي، ولوکه په زندان کې هم دې ازادۍ دورځوخيالونه هيڅکله نشـــي هيرولای، اوکه په ژوندکې خوشـــبخته وو نوهغه وخت وو چې ازاد وو، دسيالانو سره سيال وو، په دې شعرکې دانګريز داستعمار پرضد بې حده کرکه اونفرت شته.

لومړی جهانی جنګ چې ټول بشـــريت يې تهديداوه، دی په خپل مثنوي شـــعرکې ترســـيموي اودهغه دوام غواړي. ځکه چې اروپايي جګړه مار اواســـتعماري قوتونه په کې راګيردي، ، د د ه په نظرګوندې وي چې دغه استعماري قوتونه دګوردچنجوپه شان په خپل منځ کې يوبل سره وخوري.



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ډېره مهمه موضـوع دوطن دسـتايني موضـوع ده، چې دغه موضـوع دهغه وخت دټولوشاعرانو اوهنرمندانوپه اثاروکې په ډېروقوت سره ليدل کيږي.

بله موضـوع داخبارموضـوع وه، عبدالهادي داوي اخبارته دعلومو داديب لقب ورکړ، اوهغه يې ديوه ملت له پاره دومره ضـــروري وباله لکه ودوجود له پاره وينه. عبدالعلي مستغني د۱۲۹۳ کال دعقرب ۲۸ گڼه کې دسراج الاخبارپه ستاينه کې داسې وليکل :

دا اخباررنګين ګلزاردی اخبار نه
دی
چې هزاريې زه يم ولې ګلزارنــه
دی

په سـراج الاخبارکې بله ډېره مهمه موضـوع چې د شـلمې پيړۍ په پيل کې مطرح وه هغه دملي ادبياتو موضـــوع وه، په هغه وخت کې لکه څنګه چې محمودطرزي په يوه نقل قول کې وليدل شوه، دملي ادبياتو نه مقصد فارسي اوافغاني يعنی پښتو ادبيات دي . په هغه وخت کې دفارســـي ژبې له پاره کوم تشـويش موجود نه وو، ځکه چې ډېرې پېړۍ دري رســـمي اوادارې ژبـه وه ،اوهلتـه ددې ژبې لـه پـاره کـارکيده. ولې دافغـاني ژبې دادبيـاتو موضـوع دلومړي ځل له پاره، په ډېرقوت سـره داسـتقلال نه دمخه کلونو کې په افغانسـتان کې مطرح شوه. په همدې کلونو کې داوي دخپلې ژبې ستاينه وکړه ورپسې مولوي صالح محمد دپښتوژبې په توصيف کې يومکتوب وليکه چې څوجملې يې دادي :

،،.... هغه تاثيرات چې په خپله مورنی ژبې کې وي په بله ژبه کې کله وي ... هرقوم اوهرملت چې ترقي کړې ده ، لوی ســـبب يې دادی چې ټول علوم يې په خپله ژبه ترجمه کړي، ځکه چې تحصيل پرې اسان شوئ دی ...،،

غلام محی الدين افغان دســـراج الاخبارپه ۲۳ ګڼه کې يوپښـــتو اعلان په لاندې ډول خپورکړئ دی :

يواعلان په پښتو کې :

،، اول مقصـد مو داعلان دادی چې زمونږ مبارکه ژبه رواج پيداکړي، اوهرڅوک دې په دې باب کې دترقي دپښـتو ښــه ښــه مضــامين په افغاني کې وليکې، اوپه واسـطه د دې اعلان ټولو پښتنو ته خبرورکوم که څوک زما يا دبل چا په پښتو مضامينو ايراد لري، هغه دې خپله مدعا په پښتو کې وليکي اودسراج الاخبار مدير صاحب ته دې راوليږي، که بنده



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه له ځوابه عاجزشـــــه هغه ته به پنځوس روپۍ په طور دانعام ورکړم اوو عده هم شپږمیاشتی ده .،،

ددې اعلان څخه دغلام محی الدین هدف داوه، چې له یوې خوا دپښـــتوژبې او ادبیاتو ته پراختیا ورکړي اوخپله ژبه مروجه کړي اوله بله پلوه داخبارپرمخ دبحث نقد موضـــوع رامنځ ته کړي، چې پنځوس روپۍ په هغه وخت کې ډیرزیاتی پیســـې وې. چې څه موده وروسته عبدالسلام ددې اعلان په ځواب کې یوشعر راولیږه، اوپه هغه کې یې دپښتو ژبې توصـــیف کړئ چې موږیې دشـــعر دنمونې څخه دلته تیریزاویوازې همدومره وایم چې عبدالسلام دهغه وخت دپښتو ژبې یو تکړه شاعروو.

داوو څوتکي چې دسریزې په برخه کې تاسوته بیان شو اوکه چیری له ماڅخه په کوم ځای کې سهوه اواشتباه شوي وي هیله ده چې محترم لوستونکي ما خپلې سهوې او اشتباه ته ځیر کړي. ما په دغه کتاب کې هڅه وکړه چې د ســـراج الاخبارله ټولوګڼوڅخه د پښـــتو شعرونه راټول او د یوې ټولګې په توګه یې ګرانو لوستونکوته وړاندې کړم .

اوس راځم ددې کتاب دوهمې برخې ته او هغه دســـراج الاخبارپه جریده کې دپښـــتو شـــعرونه دي چې په نوموړې جریده کې په بیلابیلووختونوکې نشـــرشـــوي دي . که څه هم ماډیرکوشش کړی چې ټول هغه شعرونه چې دسراج الاخبار په پاڼو کې نشر شوی راټول کړم ولی بیاهم که چیرې له کومې ګڼې څخه سهوا کوم شعر پاتې شوئ وي یاکومه شماره ســـراج الاخبارزما لاس ته نه وي راغلئ اوپه هغه کې کومه ټوټه شـــعرپاته شـــوئ وي زه خپل معذرت تاســـوته وړاندې کوم، بله کوم ټکی چې د یادونې وړده هغه داچې شـــعرونه په کوم رسم الخط لیکل شوي ، ماپه هماغه بڼه دې کتاب کې راوړي، اوښایي ځینې لوستونکي دلوستلوسره مشکل ولري . بیاهم که په کتاب کې کومه تایپي اشباه شوي وي .هیله ده چې محترم لوستونکي اوډیرمحترم استادان ماوبښي.

په درناوی

پوهنیارمحمدشاپوراحمدزی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه برخه

## دسراج الاخبارڅخه راټول شوي شعرونه

دريم کال شلمه شماره ۱۲۹۳ هـ ش کال شعبان المعظم ۱۳۳۲ صفحه ۷-۶

دا څـه عـجـب دوران دی چـې راغـلـی پـرافـغـان دی
رنـګـا رنـګـه تـرقـي ده څـه عجب محبوب عنوان دی
وقـت دعـلـم اوهـنـر دی بـې قـیـمـت رایـګـان دی
قسـمـاقسـم مـعـارف دی نـوردعـلـم درخشـان دی
دهـرعـلـم مـدارس دی هم تحصـیل پـه ډېراسـان دی
دالـه کـومـه سـویـه موړکـي چـې ظـاهـر اونـمـایـان دی
پـخـوانـه وو اوس پـیـداشـو مـګـر فضـل دسـبـحـان دی
داخـوعصـر دسـراج دی چې افغـان ټول پـه روشـان دی
عـجـب عصـر دی جـانـانـه چې ځوان زوړ اوزوړ په ځوان دی
هـرسـړی اخـتـه پـه عـلـم کـه دهـقـان اوکـه چـوپـان دی
صـنـایـع اوبـدایـع دي وقـت دعـلـم اودعـرفـان دی
پښتـانـه کـیـږدی نشـیـن وو مـردهـغـه چې نوم یې خـان دی
اوس هـمـه سـوبـاخـبـره چـه دعـمـر قـیـمـت ګـران دی
لـه عـالـمـه بـاخـبـر شـوه چـه خـورا لـو ی داجـهـان دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورعالم هم خورا ډیر دی    نه تنها عالم افغان دی

ته سراج اخبارته گوره    چې دملک په تن کې جان دی

څونه نفعې دي ظاهرې    چې بې ژبې دي گویان دی

بې خبریې باخبر کړه    له عالمه چې څه ان دی

هرسړی عبرت په اخلي    چې زه څوک یم څه مي شان دی

دین دنیا دواړه په کې دي    گهرباره درافشان دی

په ایشیا کې مثال نشته    رشک اوردانگلستان دی

تې مدیرصاحب ته گوره    محمد بیگ طرزي افغان دی

شه مدیر باتدبیردی    دهرعلم گویا کسان دی

څه حاجت دی وبیان ته    چې اخباربه نمایان دی

دالومړی اخباردی وروره    چې افغان ټول په روشان دی

تولی رانیسی په خپله    چې قیمت یې ډیرارزان دی

په تش دیدیې قانع نشي    ځان په پوه کې خوراگران دی

بیحاصل یې گمان مکړی    قدرمند پرقدرد ان دی

اوس بیا نورعلی نورشو    په پښتو چې دي گویان دی

جانه څه عجب دوران دی    چې راغلی پرافغان دی

خپله ژبه موچاپیږي    عنایت دپاک سبحان دی

شه شیرینه پښتو واوره    چه مضمون په ډیراسان دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلم خپل ژبه مې خپله شعرگران اوکه اسان دی
زه شاعر نه یم دلبره خاص مطلب زمابیان دی
زه عاشق دخپل وطن یم بلې حب ددې ایمان دی
په خپل ملک خورانازیږم ناری کړم څومې توان دی
زه صالح غلام دشه یم پرما دپردده احسان دی
تربیت مې تول له ده دی څه چې زما نوشت وخوان دی
زی نصرت غواړم له خدایه څوطاقت اوڅومې توان دی
دپرامید لرم ودې ته څه مو زوړ اوکه موځوان دی
شه په صدق دوعا وکئ وپادشه ته څو په توان دی
ښه پادشاه دی خدای دی ښه کړي پرموږ تولو مهربان دی
علم دوست هنرپروردی بی له شکه قدردان دی
مراتب دې خدای کې لوړې ترابده څواسمان دی
پردښمن دی غلبه وی څوزمین واوزمان دی

مولوي صالح محمد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

شما ره ۲۲ اسد ۱۲۹۳ رمضان المبارک ۱۳۳۲ ۲۵ جولای

اخبارهرملت ته جانه ضروري ده واوره مانه
دملت منافع غواړي پرغمو دملت ژاړي
احتياج دخپل ملت رفعه وی په لږ لگ مدت
معارف کي صنايع کي په ثروت کي بدايع کي
په ادب کي سياست کي فلاحت کي تجارت کي
ډيرمعقول بحثونه کاندي دملت د مخ دوراندي
ورکوي دوی ته ترغيب دعلومو دا اديب
دا اغيار روخيانت دی ښکاره کي پرملت
فريبونه يي ښکاره کي عالم کي نينداره کي
په مقصد يي ملت پوه شي داتمام امورپه پوه شي
په تعليم اوتجارت کي زراعت وفلاحت کي
په ادب اواقتصاد کي اخبارات يي ښه ازاد دي
کوته داچي داخبار منافع دي بي شمار
درشي اخبار اخلاق اتحاد اواتفاق
ای زما پښتنه وروره ای دمادستركو توره
هغه علم چي څرخيږي هرسړی ورته رسيږي
هغه دی دغه اخبار رانوکي کره تلوار



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دنـيـا كـې شــــاوخـوا هــرمــلـــت گــوره جــدا

پـــه زوريـــي اخــبــارات دی پــه لــکـويـي مـطـبـوعـات دي

زمـوږ پــه مـلـکـي يـواخـبـاردی درافشـــــان اوگـــهـــربـــاردی

پـه صـــورت كي هم يـكـتـادی مـعـنـاء هـم دی پـهـمـتـادی

خــدايــه دي لـــري ژونـــدی چـي مـلـت ســـي پـه ژونـد ی

عبدالهادي داوي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږمه شماره څلورم کال محرم ۱۳۳۳ هـ ق ۲۸ عقرب ۱۲۹۳

۲ نوامبر.

رنګا رنګ انقلابات دي قسما قسم اختلافات دي
هر ملت وهر دولت اخلي نفع دفرصت
چه فرصت پیداکي یاره انتقام اخلی بې واره
تیر دروکالوته نظرکه په احوال یې ځان خبرکه
چې فرصت مندوکفارو څی ونکړوپه مورخوارو
بیاپه موږ مسلمانانو څه ونکړوکافرانو
زړه موخوږ په مراکووو چې وروم ته بسه بازووو
پرمصریانو موږ له دزړه وینه موخوږله
چې ناله ایطالویانو یورش یووړپرطربلیسیانو
زړه توکړتوکړپه دی وو رشکي سر ی پرې وو
چه داخه وشو ناګه فضل ته وکي الله
یوواررږغ شو چې روسیانو چپاویووړ پرایرانیانو
په زړوعالم یې مړکي په ظلمت یې ملک ککړکي
په سوو سری یې مری کړی مخ په توریزې یې پرې کړې
پرزخمی زړومالګی پاش شوې پرې موغوشي لکه اش شوی
په ګرداب کې دحیرت تولـه ډوب سوپه حسرت



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یاربه څه احوال شو چه علاج یې ډېر محال شو

موږ په دې ناورین اخته وو فکرزن جګرسوخته وو
چې داځه وسورحمانه ته قادریې ای سبحانه

طراباس موبالکل هیر سو چه دا خرس روسی راتیرسو

مراکو اومصر دواړه غم یې مه خوره داوژاړه

چه وموږ ته رانږدې شو دحیا طناب یې پرې شو

موږپه دې غمواخته وو فکر زن اودل سوخته وو

چه داځه بلا شوه پیښه الامان ددې له نیشه

بیا ناری سوی چه بلغار سوه راپورته دبل غار

پرتوکانو یې حمله کړه شي په خپل ځانو اخته کړه

صربیانو یونانیانو همه یورش یوور پوترکانو

ځودولته سره یوشو دېرترکان په میان کې لوشو

الحاصل چې په اضرار رسولی بیشمار

لاهنوز متوجه دی په مطلب متنبه دی

خپل ته دای محکموینه چې اسلام ونړوینه

وتخریب ته داسلام توجه لري مدام

خپله لوګوله یې بولی یوله بله سره بولی

ای افغان دواړه لاس پورته که شه په اخلاص
وخپل رب ته دې زاری که بیا زاری په عاجزی که



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ای خدایه ته قهاریې     که رحمان یې بیا جباریې

کفاردیقرترحده تیرکه     شپه و ورځ یې موږ بری که

تی په خپل میان کې اخته کې     عداوت په شه پخته کې

چه یې موږشو بالکل هیر     په خپل ځان اخته وی ډیر

موږددې گوروسیلونه     دوی همیش کوی جنگونه

او وموږته توفیق راکې     شه اخلاق ته را اعطا کې

چه طاعت دی په رښتیا کړو     عبادت دی بی ریا کړو

په خپل میان کې متفق شو     یو پربل سره مشفق شو

ته همت وغیرت راکې     ته قوت ونصرت راکې

ته موشه کې که معیوب یو     بری راکې که مغلوب شو

مولوي صالح محمد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږمه شماره خلورم کال محرم ۱۳۳۳ ۲۸ عقرب ۱۲۹۳ صفحه ۷

۲. نوامبر

## تقریظ

داخبار رنګین ګلزاردی اخبارنه دی چې هزاریی زه یم ولی ګلزارنه دی

علم زده کړه ګوره جهل په کارنه دی که دپلاردی چې جاهل دی په لارنه دی

که بی علمه خبرداردی بی خبردی که هوښیار دزمانی دی هوښیارنه دی

که څوک سود غواړي دعلم سوداښه ده په ګرمی ده دی بازاربل بازارنه دی

که سود اکړی دوکانداردی علم ګوره بانصافه ترده بل دوکاندارنه دی

خوارهغه شي چه دعلم نه غافل شي چه دعلم دولت مومی بیا خوارنه دی

کافران ګوره په علم جهانګیرشول ماوتالره دانګ وداعارنه دی

مړه ویده دواړه یو رنګ وی په غفلت کې مړیه بوله هرسړی چې بیدارنه دی

له غفلت پورته خونخواره بلانشته که زمری څوک خونخواربولی خونخوارنه دی

موافق دزمانی سره رفتار کړه مخالف دزمانی شه رفتارنه دی

زمانه وی کله ګرمه کله سرده تل ترتله په چمن کي بهارنه دی

که فلک دغیرپه کام شه غمګین مشه په دی ژرنده همیشه دچاوارنه دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه می نه اوری دترکوله وصـــاله   څو چیچلی یې دزلفو پـه مـارنـه دی

مســـتغني زه دمین په خپل ګفتار کړم   ســـتاپه شـــان ګفتاردهیڅ چاګفتارنه دی

مســـتغني یم زمـا نوم عبـدالعلي دی   زه پښـــتون یم په بل قوم می څه کارنه دی

فارســي شـعرمی مشـهوردی په جهان کـــــــــــــــــــــــــــــی   پـه پښـــتو ژبـه می شــــعرشـــعارنـه دی

دعبدالعلي مستغني په ژبه

دغلام حیدرتقریظ



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم کال اتمه شماره ۴ مخ صفر ۱۳۳۳ قوس۲۷ ۱۲۹۳ دسمبر ۱۹

په کابل کې چې اسـتیژی بار به وړی دصـندلی که له لوژی کیژی غم به خوری دصندلی

که دی څه هم دستارنه وی اوپه پښودې پیزارنه وی خورا شـه اولوی تلتک بـه رغوی دصـنـدلـی

که دڅه خونه کوچنی وی لویشت په لویشت داکمکی وی لس پـه لس کې لوینغری پـه جوړوی دصـنـدلـی

لـه اولـه بـه دقـوس تـراخـره دحـمـل پنځه میاشـتی پـه کـامـل تعظیم کوی دصـنـدلـی

شـکوه مکوه افغـان صـنـدلی عظیم نعمـت دی څه شـه خوند که تودې شـپی اومرکې دصـنـدلـی

دمولوي صالح محمدشعر



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم کال جمادی الثانی ۱۳۳۳ هـ ق ۲۶ حمل ۱۲۹۳ هـ ش ۱۶ اپریل
شماره ۱۶

صفحه ۷

ته کره دځمکې ګوره نظروکه زما وروره
څه عجیبی اوازی دی رنګا رنګ نانداری دی
عالم ټوله دی په شورکې مرد وزن په شورما شورکې
دبعضو ومخ ترقي ته دبعضو داوپستی ته
ځینی نورملکونه نیسی ځینی خپل ساتلای نشي
بعضو نوی تهدای کشیشو بعضو خپل رهنمای پرېښو
ځینی والوته هواته ځینی شوه پرځمکه پاته
یوعجب رنګه احوال دی شورماشوراوقال مقال دی
دنیاده پرشور راغلی توریدلی قهریدلی
لوی دول چې پردنیا دی په یورپ که په ایشیادی
ټول په جنګ سره اخته دی په سروروینواغشته دي
بردنیا ترخپل سرتیردي خان ومان یي باالکل هیردی
په یورپ کې زلزله ده سپینه ورځ په توره شپه ده
دجرمن پرغلبه ده زمکه سره ددوی پرشپه ده
بل دی هرچیری اورونه دتوپوکیږی وارونه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هوادی جهازونه په اوبوکي ابگوتونه
هم په ځمکه دی ریلونه په دشتوکي موترونه
دتوپوتوردربهاردی دسروکریچوشرپهادردی
دټوپکوټکه هاردی دمردکو شرکه هاردی
هم دپاسه بمان اوری هم کشتی بلا دی نوری
لوی عظیم مهلک توپونه دېرمدهشه اوازونه
پردشمن کوی وارونه ورانوی هریورشهرونه
په لکو عالم قتلیږی په لکوهم اسیریږی
دقرنولوی دولتونه دعمروسلطنتونه
په یوه ان کي شي برباد ددشمن په زړه سی ښاد
شه برباد قوم په خراب شي پوش عظیم لوی اضطراب شي
یوسه بل راشیه سی خپورپل ایستاده
دبلجیم وحال ته گوره له دی حال دی خدای ژغوره
په یو ه ان سوبرباد دجرمن زړه سوپه شاد
یوعجیب رنگه احوال دی یوغریب منقلب حال دی
جرمن دی خدای گمارلی روس انگریز ته يي شکارلی
روسیان ژاړی زار زاری کي جرمن خاندی خوشحالی کي
انگریزان په ویراخته دی دیرمغموم خوراخپه دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فرانس کې ولوله ده دجرمن پرغلبه ده
الواصل چې يواحوال دی چې تعبيريې ډېرمحال دی
خوشحال دی مسلمانان خصوصا بيا افغانان
څه عجيب يوشه فرصت دی خدای راکړی غنميت دی
همت ګوره دترکانو درومیانو عثمانيانو
بيدارمغزکاملان دی باغيرت عاقلان دی
دسلطان همت ته ګوره مردانه غيرت په کوره
دهمت توره يې کښکلی دغيرت په لاس نيولی
افرين دی پرهمت وی صدتحسين دی يوغيرت وی
چه فرصت په پيدا و روان شوپه رښتيا
غرمی وکه وررهی سو مقابل هم درروسی شو
ځينی ونيوی قفقاز په مطلب سوسرفراز
هم پرمصری حمله وکړه هم په سيوېزيې چپه وړی
بلې بلې شه فرصت دی خدای راکړی غنيمت دی
عطا شوی دی له پاسه مفت يې مه باسی له لاسه
ای زمابرادرانو! ای جمله مسلمانانو!
شه فرصت دی خدای راکړی شه نعمت يه عطا کړی
چه کفارسره اخته دی په سروويںو اغشته دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکری وکې چې سی زیاد کافران سی تول برباد

همیشه بنه فرصت نه وی تل بری پرغلیم نه وی

گاهی گاهی سی پیدا مدام نه وی پردینا

تیرکلونه که منظر په احوال که ځان خبر

چه پرموږ باندې څه حال وو پرېشان زموږ احوال وو

دکفاروغرغرې وی شپه و ورځ په موږ نغری وی

ترخوله تیری بی کولی لافی شافی بی وهلی

وحرم ته یی نسبت دوی کاووپه جمعیت

خدای اخته کړه اوس په خپله سره وژنی یوله بله

دادخدای مهربانی ده دخالق نگهبانی ده

چه یې موږ کړو ځینی خلاص شکری وکې په اخلاص

بلې بلې مهربان دی دمظلومونگهبان دی

له ظالم انتقام اخلی دی همیش مدام

ای باری پروردگاره ای قادره ای غفاره

خوار افغان تاته زاری که بیا زاری په عاجزی که

موږنگاه کې له افاتو له جملوانقلاباتو

په سایه کې موده شا زموږ امیرحبیب الله

اسوده لری ای خدایه ای هادی اورهنمایه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي صالح محمد

زړه ځـمـادک لــه مـیـنــی دوطــن خپل وطن ماته غزیزدی ترخپل تن
هریوګـل می دوطن پـه مـادېرګران دی ترکشــمیره ترپـاریســـه ترلنـدن
شـــیرین ځان می په شـــیرین وطن فدادی زه خودارنګـه فرهـادیمـه کوهکن
ګـلســـتـان مـی دوطـن لادرکـنـاروی خـارســتـان دی دوطن راتـه ګلشـــن
دوطن پـه حمـایـت کې ځـان مباح دی پـه دامینی کې لازم دی ســـرباختن
دچاپه ســـرکي چه ســودا دوطن نه وی ســـردده دی مســـتحق دی بریـدن
چـاپـه زړه کې چـه جنون دوطن نـه وی دهغـه زړه ه دی خـدای همیش لری غــــم جـــن
ســاکنان دخپل وطن چې څوک غیربولی هغـه غـداردزمـانی دی هم دشـــمن
کـه دېـردی پـه جـهـان کـې عـزتـونـه دیرعزت دی پـه خـدمـت کې دوطن
دملـت ودېن ســـراج اعلیحضــرت دی پـه جهان کې لکه نمردی دی روشـــن
هســی شـــان ترقي شــوی دده په عهدکې چې پـه کـاروی دوی دپـاره څوزامن
مـدرســـی اومکتبونـه اوس جـاری دی دهـرعـلـم دهـرکســـب دهـرفـن
شــه توپونه اوس جوړېږی په کابل کې اســتغنـاموشـــوه لـه ګروپ دجرمن
هم اخبـارموشــــایع کیږی پـه وطن کې ډېرمرغوب لکه محبوب شـــه مزین
یومـدیریـي چې جـامـع دکمـالات دی خدای دی دی ســالم ســاتی له هرحزن
واقعـات موچشـــم دید شـــوه دهرشـــهر کـه پیکن دی کـه لنـدن دی کـه برلین



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخردعـا دافغـان داده ای صـــاحبـه چه اسلام صـاحب دجاه کړی ذولمنین

غلام محی الدین افغان

۲۳ شماره تاریخ ۱۵رمضان ۱۳۳۳ هـ ش ۵ اسد ۱۲۹۳ ۲۸ جولای
خلورم کال ۲۳ شماره

# روژه

روژه مـیـاده بـخـتـوره ځـان خـبـرکـه سـنـوره
دروژی فضـایـل دپـردی لـه حسـاب تـرحـدتـیـردی
خـوراډیـرپـه ثـوابـونـه دی پـه دک تـول کـتـابـونـه
روژه خـدای ده خـاص کـړی وخپـل ځـان تـه منسـوب کړی
داحـدیـث شـریف قـدسـی دی پـداشــان ,الصـوم لـی, دی
د,انـا اجـزی, بـه گـوره دی ددې پـه شـان کې وروره
خـدای ویـلـی پـه قـران پـه شـه طوراوپـه شـه شـان
چـه شـهـررمضـان ,انـزل فـیـه الـقـران,
خورانیکـه میاشـتـه ده جـانـه ځـان پرپوه کـه پرمـا گرانـه
رحـمـانـی انـوارلـه پـاس رالـیـژی سـم لـه لاس
هـم دهـرچـارزق دپـریـږی نـعـمـتـونـه پـریـوانـیـږی
روژه دری قسـمـه ده جـانـه ځـان کـه پوه واوره لـه مـانـه
درجـه چـه پـه ادنـاده ځـان خـبـر کـه هـغـه داده



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه خوړل اونه چښل دی اودبطن وفرج ساتل دی

داروژه ده دعوامو مطلق مسلمانانو

دنیکانو روژه داده چه مقبوله د مولاده

باید ټول اعضا نګاه کړی له ګناهه یې پناه کړی

ته په پښونه په لاسو نه په نو روانداموو

پرګته وکې اقدام خپل ځان وساتی مدام

اواعلی درجه داده چه ترټولوشه اعلی ده

چې زړه پاک له ماسواکړی وابسته یې په مولا کړی

دا روژه ده دخاصانو دباری د مقبولانو

چه روژه یې وی ګناه کی فایده نه کی ځان تباه کی

روژه تی چه ګنه کاروی په مثال ددې بیماروی

چه پرهیز کې میوه خوری اوپه لوی لاس زهروخوری

صالح محمد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم کال دوهمه شمار ه ۷ – ۸ مخ ذیقعد ه ۱۳۳۳ هـ ق . ۲ سنبله ۱۲۹۴ هـ ش ۱۲ سپتمبر

پښتو ژبه ده شرینه هم فصیحه هم متینه
قواعد یې خوراښه دی فوائد یې هم لړ نه دی
داوسیعه ده خورا ترټولو ژبو ددنیا
که تاریخ ته نظروکې پراثاریې کذروکې
دابه شي درته کویان چه ای لاله ای ځما جان
زه خوراقدیمه یمه په کوښښ به سمه شمه
شعراراپکښي ډېردی ترحساب وترشما رتیردی
اثرونه دی جوړ شوی ادبیانو دی لیکلی
که بیان کمه نومونه په کارکیږی دفترونه
تنها یوخوشحال خان کوره تی دیوان چنور که ای وروره
څه الفاظی مستعمل کړه مشکلات یې تمام حل کړه
طبیعیت یې لور روان دی چه بیدل دی دافغان دی
نزاکت کښ څه بیان دی چه شوکت ده ته پیشاندی
چه بیان دخط وخال کې صایب پاته حکیم لال دی
صنایعوکې سلمان دی بدایعو کې طوفان دی
که دهجری پرلارسپورشي قاانی به ورته چنورشي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنهانه قدیم خیال دی    چه دی یغرق په خطوخال دی

جداطرزلوی جدید    هم اعلی دی هم مفید

تعلیمونه درکوی دی    له هرشي دی خبروی دی

دصحت دحفظ دپاره    قواعد کې درشکاره

داولاد په تربیت کې    خوراډېرتاکید شدت کې

هم په شکاردی پوهوی دی    هم شه کارد رزده کوی دی

په تاریخ کې فکردی کړی    دعلوموذکردی کړی

جیوکریفی کې دغربیړی    په هررود کې دی ګډیږی

چه فارسي اشعارد ده دی    هغه هم بی خونده نه دی

پشتو غوندی هرسونه دی    بیاهم دوی بدنه دی ښه دی

تخلص خپل دی ایژدی    په پارسی قول کې روهی

په پښتو کې چې مقال کړی    تخلص خپل دی خوشحال کړی

عرض داچې خوشحال خان دی    خوراشیرین بیان

هم دده له شه کتاب    مامعلوم کړمستطاب

په پشته یوزرووشل    یوبل هم باید شمیرل

تولد سو خوشحال خان    چه خوشحال یې کړجهان

عبدالهادي داوي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورمه شماره ۸ مخ پنځم کال ۱۸ میزان ۱۲۹۴ هـ ش ۱۱ اکتوبر ۱۹۱۶ ذی الحجته ۱۳۳۳

## قصیده

امید مکړه چې همیش به یې خوشحال    په دنیـاکې دی هرشــــي لره زوال

هیچ شــــي لره ثبات اوقرارنشـــته    دی ثبـات دمحمـدشـانو دیرمحـال

پادشـــاهان دګذشـــته زمانی څه شــو    چه دوی ووصـــاحب دجاه اودمنال

خبردار له ســـکندره کل جهان دی    چه دی لاړ شـــوله دنیا نه بی مجال

لاشـــي مړشـــي چه اجل وده ته راغی    نه په کاریې پادشــاهی شــوه نه اقبال

دبـابـل اودنیـنـوی ســــلطـنـتونـه    داسـي تیرشـو لکه تیر شــي دچاخیال

دبرمکو کروفر په داشـــان تیرشــــه    لکه تیرشـــي په خوبنـــی اندک حال

وروره ته که شي فصیح لکه سبحان    اوکه یې لکه یوسـف صــاحب جمال

اوکه فرد فریدون تاته حاصــل شــي    اوجمشـید غوندی دجام شــي مالامال

اوکه عقل دلقمان جمله ســـتاشـــي    معمرلکه چه نوح شـــي ته په کال

اوبه ونه که درازلکه چه عوج شـــي    اورســـتم غوندی که ته یې قوی بال

اوپه عدل کې که ته لکه عمرشـــي    کـه پـه حیـاکې شـــي عثمـان خوش خصـــــــــــــــــال

اوکه ته په قرائت کې اپ کعب شــي    ابوذرغونـدی کـه یې صـــادق مقـال



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شـــجاعت کې کـه خـالدزوی اوپــه خط کـې علـی زوی دهلال دولـــــــــــــيــــــــــــدشـــــــــــي

الغرض چه مکمل به هرفرصـــت نـه دســيال وی پـه دنياکې نـه مثال شــــــــــــــــــــــــــــــــــي

چـه داعی داجل تـاوتـه نـازل شـــي تـه بـه وکړی لـه دنيـا نـه ارتحـال

ای افغان ناصـــح مشـــه ونورچاته مگرته که شـــي کاربند په خپل مقال

غلام محی الدين افغان



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهمه شماره پنځم کال میزان ۱۲۹۳

زمــا زړه دوینـو ډک دی بیقـرار　　نن ســـتم دکـافرانو شـــو بســـیار

درســـول درویه فضـــل وکړی رب　　پــه امــت دخپـل حبیـب بزرګوار

ســتمونـه دکفـاروچـه حســـاب کړم　　دوی تیرشـــوی بیلـه حدولـه شـــمار

دوی په زړه کې رحم نشته په اسلام　　جوړيږي دپرلکـه جوړپـه اهـل نــار

طـاقت نـه لرم چـه لږ بیـان یې وکړم　　ددې جفـا لـه ســتمونوڅـه اخبـار

ترســـایـانوکـافرانووقصــــد کړی　　چـه دمســـلم دپـاتـه نشـــي یو دیدار

شـــي اخراج مســلمانان ټول له یوریا　　حلقـه تنګـه دپـه دوی شـــي دپرکـار

ورو ورو دپه اشـیا کې هم مفقود شـي　　مګرڅوک چه دصـلیب شـي پرسـتار

دصـــلیب بیرق دپاس په مکه شـــي　　یو دوشـــي په مدینی تاخت وتاتار

مسلمانان چه نوی بیاپه نصـاری شي　　پـه رضــا یـاپـه جفـاواړه کفـار

نن یونان باغی له حکم دسلطان شـه　　صـبا ورځ سـرو په شـوه خودمختار

انګریزووچـه خیرخواه یودبلوچو　　پـه داچل یې کړقبضـــه ددوی دیـار

دقـلات خــان اوس بـنـدی دی پـه لاهـــــورکـــــې　　ځکه دانګریزبلوچستان شه باج ګذار

مراکوکې چه د ورونو سـره جنګ وو　　اوس فرانس پـه کې عزیز دی بی پـــــیـــــکـــــار

پـه ایران کـې هـم دغســـی حــال بنـــــکـــــاریـــــږی　　چه ټول شــوی کرکان دی په مردار



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه فریـب یې مســـخرالجیر پـاکړه  هم تـابع داســـې  ســـلطـان دزنګبـار

دانـګریـزډېـرفریـب پـه داوینـاکې  چـه خیرخواه یود ادم دټول تبـار

هیڅ مطلـب نورنلرو پـه زړه کې  تـمیـزتـاســـوحـوامـوروه ادم پـلار

اعـانـت لـره راغلـی یـولـه لـرې  دخـوارانـو کـړومـدد بـرادروار

غرض داوی ځان نمایان کړی په ښـه شـــــــــــــــــــــــان  دوی خوظـالمـان لـکـه لیـوان دی دېــــــــــرمــــــــــکـــــــــار

شـرمښـان چې یوځل پریوزی په رمه کـــــــــــــــــــــــې  لحـاظ خونـه کړی دکبـاراودصـــغار

فلسـطین چه په قبضـه کې داسـلام دی  په اسـلامبول کې داسـلام وی برقرار

په مسـیح زما قسـم چې دوی خواهان دی  چـه علاج غونـدی مبزکـانـدی پـه دار

دانجواوصـــلیبی جنګونـه کـه نـه وو  پـه منبزبـانـدې لـه یورپ دتـارتـار

دسـلطان صـلاح الدین په زمانه کې  تول یورپ چه یورشـلم کره حصـار

له کفارواکثرمړه شـو په میدان کې  نورشووخلاص په هرهمت اوپه فرار

ســه قصــوروه داکلام په باب لیکلی  چـه روضـــه دامـام کړه کولـه بـار

بیا جنګ و ه دطرابلیس په افریقه کې  چه مسـلمان شـوشـهیدان هزارهزار

نه سـپین ږیری یې دسـلوکالوپرېښـود  نـه پـه غیژکې دمورطفل شـیرخوار

چه عمل زموږ بدل شوحال موبل شو  لکـه وی و عیـد لره لوری دقهـار

دېرکلی یې خـالی کړه لـه ســرونـه  عمـارات خـالی وشـــوه بیا پـه نـار



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـتمونـه داتلی ســـــه عجب نـه دی   چـه لږ حـال دانګریزانو کړم اظهـار

پـه ظـاهرکې انګریزان مهـذب تردی   پــه بــاطن کــه دوی بـدتردنورکفـار

اول داچې اوس سالاردوی کنجزوی   چه یې مرمهدی ســورکړی ووپه دار

هغه پوپ چې دمســیح قایم مقام دی   مذهبی ددوی ســرداردی هم یې پلار

چـه دکـړی ووبـیـان اطـالـیـه تـه   چه اســلام دی ډېراشـــد اغزی دلار

ډېرثواب دی چه خارلری شـــي لـه   هم پلاری که دی نه وی نور ار زار لاری

اتلی داســې اســتبعال داســلام کړی   لـکـه شـــې درووابـنــه دمرغزار

قلم بنـدبـه یې زرمـه بخره نکړی   که ته جوړکړی قلمون تول اشـــجار

دعــادافــغــان داده ای خــالــقــه   چه تل وی تول دشــمن ذلیل همخوار

غلام محی الدین افغان



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسمه شماره ۳ ــ ۴ مخ ربیع الاول ۱۳۳۴ هـ ق ۱۶ جدی ۱۲۹۴ هـ ش

۷جنوري ۱۹۱۶ پنځم کال

پـه عـالم کې ځـه غوغـا ده نوپوهیږم چه دروغ ده که رښتیا ده نه پوهیږم

نن دکفروداســــلام ســــره حملې دی غلبــه ده کــه غزاده نــه پوهیږم

چه اســلام لره به غم وی که ســاده ده داژراده کــه خنـدا ده نــه پوهیږم

جنگ دکفروداســــلام کـه قیـامت دی اخرت دی کــه دنیــاده نــه پوهیږم

خدایه دادیورپ جنگ دی که محشردی نـه پوهیږم ځـه بلا ده نـه پوهیږم

دیورپ دخلقو جنگ که رســتختیزدی کــه دکـل عــالم فنــاده نــه پوهیږم

رڼا ورځ یې زما په سترګو توره شپه کــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړه توره شـــپه ده که رڼا ده نه پوهیږم

عــاقلان دی زمــانی دی لیونی کړه داجنون دی که ســـودا ده نه پوهیږم

مســــتغني کـانـدی وینـاپـه هرژبـه چه دده ځه مدعاده نه نه پوهیږم

عبدالعلي مستغني



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطاعت داول الامر فرض عین دی بلي بلي ثابت شوی په قران

ارویدلی به دی وی چه خلق وایي رعایادتول پسونه شه شبان

هغه پسه چه اطاعت دشبان نه کي خودبه یي وخوری دی لیوان اوشرمښان

پسه دځان په شروخیرکله پوهیږی له رمه ووزی لقمه سی دګرګان

چه جداجدا سی دوی خپل شپانه لیوه خپل مطلب حاصل کي په داان پربږدی

چه لیوه په رمه ګډ سی حال یي داوي په سرووینو تول لړلی پري لمان

جدا مه شه جدایي توره بلاده همدغه له خدایه غواړي دښمنان

ددښمن همدامطلب دی مثال واوره لیوه څه غواړي له خدایه بادوباران

جدامه سی له رمی شپانه قبول کي اوکه نه وی بیابه وکي دپرارمان

په رکاب کي په سرورکي شه تابع سی شکری وکي زموږ شبان دی مهربان

دهرشپه تعظیم لازم پرهرمیږی اوکه نه کي خود به وکي دپرنقصان

باری خدایه ته توفیق راکي وموږته چه دخپل پادشاتابع شوپه ښه شان

شه توفیق داطاعت وموږ ته راکی چه دی خپل امیر تابع سو په قران

څونه لوی نعمت درب دی پرموږسوی چه پادشاه مومسلمان دی هم افغان



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه لویه مهربانی دخدای ده جانه چه خپل قوم دی زموږ شـــبـان

خدایه ورکه جدايي اودوم رنگی کي تولـه یو کـانـدی جملـه مسـلمـانـان

مولوي صالح محمد

## ۱۹ شماره ۵ مخ شعبان ۱۳۳۴ هـ ق ۱۳ جوزا ۱۲۹۵ پنځم کال

## درحمان بابا په شعر مخمس

دډیرعمر تمناکوی ترکومه دځوانی چمن په زړتیاکوی ترکومه

همیشـه به خوب خنداکوی ترکومه اعتماد بـه پـه دنیـا کوی ترکومه

دارفتاربه پس شـاکوی ترکومه

ځوبه گرزی په دنیا پسی زهیره ځوترځونه یې په غمکې یی دلگیره

ای دخپل نفس وهوا پـه دام اسـیره ځوبه پټ له مرگه گرزی سـپینه ږیره

په روشـانه ورځ په غلا کوی ترکومه ځوترځوتن اسـانی پردنیـا غواړي

ځوترځوبه له خپل عمر بقا غواړي سـتامثال رحمان ویلی دی که غواړي

چه ددهرله یارانو وفا غواړي صـیاد ی په دعنقا کوی ترکومه

عمر تول تیرسـو په لهو په لعب کي زنده گی موده په رنج اوپه تعب کي

نه هیځ یو په زړه کي بیره دخپل رب کـــــــــی شـکرنه کووهریودې په غضب کي

ځوبه خوف اونه رجا کوی ترکومه ته چه دابدی پیری کي په دنیاکي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه ځـه ســــترګو بـه دریږی پـه عقباکې شــــیرین عمر د کې تیرپـه دی هوا کې

چه شپه تیره کې په خوب ورځ په خندا کــــــــــــــــــــــــــــــــــې تـه بـه داخوب وخنـداکوی ترکومـه

دروغ پرېږده رښـتیا وایه نیکه صـفاته بدخواهی مه کوه نیکخواه اوسـه هرچاته

همدغـه دی نصـــحیت زمـا وتـاتـه راســــه راســــه مخـامخ وایـه ومـاتـه

داغیبـت بـه پس شــــا کوی ترکومـه نه دخدای ه دی شــــا نه دی وطن حق داداکــــــــــــــــــــــــــــه

نه به عمر دی له ځانه څوک رضـا که بلکـه هرڅوک جوروی چې دپیـداکـه

ننګ نـاموس دپـه لوی لاس ســــرولی تــــــــرشــــــــاکــــــــه دوطـن بـه حق جفـا کـوی تـرکومـه

چه ددین بناورانیږی باک دی نشـــته په رشـوت ګوتی جوړیږی باک دنشـته

ګنـاهونـه دزیـاتیږی بـاک دنشـــتـه ورځ په ورځ نیکې کمیږی باک دنشته

تـه بـه د مری نـاروا کوی ترکومـه پرتـاحق دوطن دادی ځـان خبرکـه

شـه یه غواړه اوله بدیه لاس په سـرکه هرســـړی ددې وطن خپـل برادرکـه

دوروری لاس په اخلاص وده ته ورکه راســــه پرېږده تربورتیـاکوی ترکومـه

ته چه غلاو دشـــمنی کوی له وروره ورک ســه ورک ســه ســپی مه رازی تــــــــــرکــــــــــوره

عمـل نیـک ځـان کـه خلاص لـه دی پـــــــــیــــــــغــــــــوره دغـه وضـــع ده خوراه بـده هرګوره

تـه بـه دارنګه ســـپیتیا کوی ترکومـه چه قضـــا شـــته حاجت نشـــته وبیان ته



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره ده معلومه و جهان ته    ته چه پند وايي ناصـــحه ورحمان ته
چپ سه چپ سه نصيحت مه که افغان
تــــــــــــــــــــــــــــه

شـــکايت بـه دقضـــا کوی ترکومـه

مولوي صالح محمد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹ شمار شعبان ۱۳۳۴ هـ ق ۳ جون ۱۹۶۱ م ۱۳ جوزا ۱۲۹۵

پنځم کال صفحه ۶-۵

# درحمان بابا په شعر مخمس

ځوک چي ورک له خپل وطن وی څه به خوب کا ستمګر چي ګلبدن وی څه به خوب کا

مبتلا چي په شیون وی څه به خوب کا هغه ځوک چي به مین وی څه به خوکا

چه فرهاد غوندی کوهکن وی څه به خوب کا داجهان دی پاته تانه هم له مانه

دقضا چاره خونشي له لقمانه ځوک کری نشي علاج دمرګ دوانه

هرنفس د سری تله دی له دنیانه چي یي هرساعت رفتن وی څه به خوب کا

له خوشي اومسرت نه خنداکیری په بیلتون کي خندانه وی ژړاکیږی

خوب بستربانديږ سره داشناکیږی چي عاشق له خپله یاره جداکیږی

که دسلو شپو کرمن وی څه به خوب کا چه مفتون شي ځو اوربل دده په زړه شي

ناشنا له خواکه خوبه له لیمه شي عاشق نه دی که بی یاره دی ویده شي

درقیب له جوره خوب دعاشق نشي دهغو چي یاردښمن وی څه به خوب کا

بی کسی می هرګزنشوه غمګساره ازاده لکه لاله یم له ګلزاره

تماشي ته می عالم راځی بیشماره چاونه ویل چه له څه یي بیقراره

چه په اورکي یي وطن وی څه به خوب کا زه په شان دکواکب شب زنده داریم

هرګزنه یم سترګی پټی بی قرایم هرسحر زه له ژړا سره دوچاریم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناســـت به یم که داشـــناخپل ډېرافګاریم   څوک چې داســـې زارغمژن یې څه خوب کـــــــــــــــــــــــــــــــــــا

دچاکارچې  شـــکایت ســـی  لـه هجران   ممکن نـه وی چـه بیرون شـــې لـه نیرانـه

امیـد مکړه خوب خنـدا شـــوپـاتـه تـانـه   خوب  خنـدا  پـه  بیغمی  کیږی  افغـانــه

چې یې بـل اتش پـه تن وی څـه بـه خوکـا

غلام محی الدین افغان



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل داهل وکمال په فضيلت کې

بی کمـال دبـاکمـال کلـه همســـردی    هم قیمـت کلـه گوهرســـره حجردی

باکمال ســـړی په مثل دبادشـــادی    پـه ظـاهره کـه مفلس اوقلنـدردی

کـه لبـاس دبی کمـال وی دزربفتو    دائی ځـل دی دحریروهغـه خردی

کـه لبـاس دبـاکمـال وی دکربـاســو    کمـال ده لره خلعت دی هم زیوردی

څوک چه نه لری کمال واوره افغانه    کـه غنی وی لاخوتـانـه مفلس تردی

غلام محی الدین افغان



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴ شماره ۱۵ مخ شوال ۱۳۳۴ هـ ق ۱۰ اسد ۱۲۹۵ هـ ش ۱۱ اکست ۱۹۱۱

## پنځم کال

## دخوشحال له شعره انتخاب

پښـــتـانــه کــه ادم زاد دی  پــه خــویــونــوکــې عــنــاددي

نــه هــمــت لــری نــه عــقــل  خوبش هرگوره پــه فســـاد دی

نــه دپــلارپــه ویــل کــارکــا  نــه پــه نــغــت داســـتــاددي

چه پــه دوی کې یوېې شـــه وی  دهـــغـــه دســـــرجـــلاد دی

یودبــل پــه کمی نــاســـت دی  ځــکــه تــل پــه بــلا یــاددي

اول  زه  دانـــوردپســــــه  ځــو شـــتــه واړه داهــدا دی

پــه نــفــاق یــې واړه ورک کړل  کــه شـــجــاع دی کــه جواردی

نــه قــدرشـــتــه نــه پــدل  دېــرتــرمــوروتــرجــداددی

دالاشـــکــرکړه خوشـــحــالــه  چــې بــنــده نــه دی ازاد دی

خوشحال ختک



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه شماره شپږم کال څلورمه اوپنځمه صفحه ذیعقده ۱۳۳۴ هـ ق ۳۱ اګست ۱۹۱۶ م ۸ سنبله ۱۲۹۵

ډېرڅنا دخپل مولاکړم چې اوطان موخپل دی | که خیبردی که کنړ دی که لغمان موخپل دی

قندهار هرات،مزارهم بدخشـــان موخپل دی | شــکرشــکرباغ موخپل باغبان موخپل دی

ګل موخپل بهارموخپل بســتان موخپل دی | ګل موخپل ســوســن موخپل ســنبل موخپله

ریحـان خپـل نرګس خپـل ســمن موخپلـه | کشــت موخپل زمین موخپل ګلشــن موخپله

ســروه خپـل بلبـل خپـل چمن موخپلـه | لالـه خپـل ارغوان خپـل دامـان موخپـل دی

سپین موخپل همشـین موخپل جاله موخپل دی | جـال موخپـل کمـال موخپـل حیلـه موخپـل دی

صـــید موخپل ماهی موخپل میله موخپل دی | نشـــه موخپل خمارموخپل پیاله موخپل دی

بزم موخپل ســاقی موخپل دوران موخپل دی | پســته موخپل بادام موخپل روغن موخپل دی

عنـب خپـل انـارخپـل وطن موخپـل دی | طبیب خپل حســیب خپل دشــمن موخپل دی

ګلیم خپل بـازارموخپـل کشـــتن موخپـل دی | زمکـه خپـل رود موخپـل دهقـان موخپـل دی

هرصیغه دنحومستقبل دی که ماضی موخپل دی | یوتن که ناراضـــی خیردی زرتنه راضـــی مـــوخـــپـــل دی

هرطرف کـه غردی اوکـه ســمـه ا راضـــی مـــوخـــپـــل دی | شــاموخپل ګداموخپل قاضـــی موخپل دی

ســپاه خپل رعیت خپل دیوان موخپل دی | کارموخپل روزګارموخپل محصــول موخپل دی

غل موخپـل قـاتـل موخپـل مقتول موخپـل دی | ردکـه مســتقـل دی کـه معزول موخپـل دی

خان دی که ملنګ دی که مقبول موخپل دی | کوتوال خپل پهره دارخپل زندان موخپل دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشـي چه تول خپل یوپه اخلاص څه نوکری وکـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــي
څوک چې دی نادان وی هغه کس ته رهبری وکـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــي

هرســــاعت دوعا دخپل پادشــــاه ددلیری وکي
پردی نشـــتـه گرده خپـل یو شــــکری وکي

ملک خپل افســــر خپل ســـلطان موخپل دی
درسـت سره اخباریو دیوانه په میان کې نشته

بی دجان قربان بل افســـانه په میان کې نشـــته
هیڅ دفرانســـیونشـــانه په میان کې نشـــته

شـــکرشـــکرچې بیگانه په میان کې نشـــته
مـدیرخپـل اخبـارخپـل زبـان موخپـل دی

چـه پـادشــــاه زموږ دی مهربـانـه نظروکـه
دېرعالی یې نیت دی په څه شـــان نظروکه

څـه حـاکم راکړی عزیز جـانـه نظروکـه
عـجـب عصــــردی افـغـانـه نـظـروکـه

ژبـه خـپـل بـیـان خـپـل قـلـم مـوخـپـل دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه شماره شپږم کال ۵ ــ ۱ مخ ذیعقده ۱۳۳۴ هـ ق ۳۱ اگست ۱۹۱۶ م
۸ سنبله ۱۲۹۵ هـ ش

## دخوشحال ختټک په شعر باندې مخمس کلام مولوي صالح محمد

تل به دارنګه فرصـــت وی که به نه وی پردنیابـه می عزت وی کـه بـه نـه وی

زمـا بـه دارنګـه حرمـت وی کـه بـه نوی ســاقی تل به دداســت وی که به نه وی

لـه جهانـه بـه مهلـت وی کـه بـه نـه وی په میدان دعشق ورګډ سه کوک رباب که

کـه پـه ســربرابرنـه وی غوږ پـه تـاب کـه پرمجمر دعشـــق یې خپل زړګی کباب که

راســـه پرد میوجـام پـه می نـاب کـه تل به هســی فراغت وی که به نه وی

کـه ددید هوا لری بـــه فرصــــت نن دی غمازنشــــته ځای خالی فراغت نن دی

ژرســه ژرســه که یې ګوری مهلت نن دی هرهوس چه دصورت کې ساعت نن دی

ګوره کال ته به صــــورت وی که به نه وی دوطـن پـه رنج اختـه یم بـی ترتیـب

نــه رغیـږم بـه دوا ای زمـا نصـــیب ای زمـادســـترګوتوره ای حـبیبـه

پـه رښــــتیا ومـاتـه ووایـه طـبیـبـه چه درنج به می صحت وی که به نه وی

نن خوبیا فرصـــت ومـاتـه راځرګند دی ددېداردوعدی څنګ عجب خوند دی

پـه هوا می ددېدن زړګی خورســـند دی دوصـال وعده دی وکړه ستا سوګند دی

پـه داکارکې بـه غفلت وی کـه بـه نـه وی ستادعشق په اورکې وسوزم ایری شم

کـه بی قـدرلکـه خـاوری دکوڅی شـــم لاس به نه واخلم له تاکه پرله پرې شــم

کـه پـه تـاپسـی ملنګ دمصـــلی شـــم شــاه په تابه می قیمت وی که به نه وی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل عمر به زه هغه ســـاعت خوښ کم   چه دغشـــي دمژګانو پـه زړه خښ کړم

یـاددې چـه دویـل   چـه تـابـه خوښ کړم   سپینه خوله کې بی روی یاره درپیشـکش کـــــــــــــــــــــم

په خوشـــحال به می منت وی که به نه وی

مولوي صالح محمد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم مخ شپږم کال محرم ١٣٣٥ هـ ق ٢٩ اکتوبر ١٩١٦ م عقرب ١٢٩٥

شپږمه شماره

## دعبدالرحمن صاحب په شعر باندې مخمس

جاردی شـــم ترنـام راشـــه راشـــه په هجران کې یم ناکام راشـــه راشـــه

څما ورد صـبح وشـام راشـه راشـه ای زمـا دزړه ارام راشـــه راشـــه

ســـروقد گل واندام راشـــه راشـــه واړه خلق دصـــنم مـدح خوان دی

هم له لاسـی دپرخواران سینډبرباندی هم له حسن بی رونق تول خوبان دی

هم همه واړ ه خوبان یې مقتدیان دی دهمـه واړوامـام راشـــه راشـــه

بازارخوسوړ شو ستاله حسنه دخوبانو ولی تـه غزال چشـــم همـه مطلوب دشـــــاهـــــانـــــو

ایمـان وړونکې دشـــیخـانو دپیرانو بی تانشـــته څه حرمت دعاشـــقانو

دعشـــاقو احترام راشـــه راشـــه مهجور زړه خوله فراقه زیاتی چوی

په هغه بـاندې کول درحم دپربـه نـه چه په ســـرغم غمون دپرپراته وی وی

خدا زده بیابه هسـی وقت که به نه وی زه نه پوهیږم له ایام راشـــه راشـــه

په دروغوهســـی تـه ولی وینـا کړی دوصـــال وعده همیش ته په فردا کړی

خواه مخواه خندا په ماعاجزشیدا کړی نن هنگام دی که جفا کړی که وفاکړی

چاره نشـــي له هنگام راشـــه راشـــه ای محبوب راســـت قامت خم ابرویه

لب شـــکر دندان گوهر شـــیرین کویه نـــازنیـن مـه جبیـن ســـتم جویـه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې رو يه ســـنبل مو يه ملک خو يه   عنبر بو يه لا له   فام راشــــه راشــــه

داجهـان كلـه   مكـان دانبســــاط دى   بلكـه دى د مســــافرو يوربـاط دى

په  هرلوركي غم موجود مفقود نشــاط   مــبــارک ددومـيــنــواخــتــلاط دى دى

تله دى تله دى له  جهانه راشـه راشـه   يخ كابل كې مى په زړه بله لمبه شــوه

لــه فراق ســـينــه اتش كـده شـــوه   لــه فراق ســـينــه اتش كـده شـــوه

شــپه لاپرپرده رڼا ورځ راباندې شـپه   مـاغريب لره قـاتـل دعشـــو ه شـــوه شــــــــــــــــــــــوه

دافغـان مـاه تمـام راشــــه راشـــــه

غلام محى الدين افغان



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول مخ اتمه شماره شپږم کال صفر ۱۳۳۵ هـ ق ۲۷ نوامبر ۱۹۱۶ م ۵ قوس ۱۲۹۵

## دامیر حبیب الله خان په صفت کې

مینه راشــه په ســرواږوه ګلګون ســاغر چه ژمی تیر شو اوراغله دجمشید اختر

په ګلســتان کې په راتګ دنوی کال جلوس طـاق دنصــرت ترمری قوس دقزح مــــــازدیــــــګــــــر

دعنـاد ل دی هغـه هرکلـه راشـــي اومبش چه کری سـامعه محسـوس د داوداشـر

ورکړی داد دفصـــاحـت دبلبـل تقـدیر ګته پوغاش له حیرت چیچلی شکسپیر

چه په ګلشـن کې کسـی سـودقدم ګل دکلارد شــــادیـانی نغـاړی وژغـاوه ه تنـدر

دمینی اور دبلبـل پـه زړه کې ولګیـد ســری لمبی پـه پوری کړی ده لالی مـــــجــــــمــــــر

پـه تروزمی کې بلیړی داســتوری چراغ لکه داغونه دبیلتون دعاشـــق په ځیګر

ده ژلی مرغلری ارغری پربانـدې د ګل کړه ایښـــی دی بوټی بیا دګلوتاج په ســـــــــــــر

ترهغـه پوری چې وی دادپســرلی راتـګ وی دی پرسـردامیر دادخراسـان افسـر

ده شـــهنشـــاه دافغـان داودل ســـالار مری توب دری فخر شـــمیری وکمتر

که وه نازېږوپه دی عصـــروه مزته شــایي چې امیرنــه مو مـدد غواړي دجرمن قـــــــــیصـــــــــر

جارج وراســـتوی باج ځکه کال په کال چه وهند خواته دی واستوی خپل لشکر

دتـرقـي هـوا خـواه ده تـمـدن بـانـی دتـجـارت مـددګـاردحـرفـت یـاور



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت داسی نه ولیدلی پشتانه په خوب | هم نه درلود په دی شان خراسان افسر

ددرست پادشاهان کي نه دی سال دی نه موخی | کله ستوری وی شکاره مخامخ ده نمر

نه دی درواغ په رښتيا چه ته يي نن کسرا | په عدالت کي ته يي له خلافه سنجر

دی امیر ابن امیرابن امیرابن امیر | په امیران دادنیا نه لری بل همسر

په ازل اسکزی درته وه قدرت ده خدای | داخداداد قبا فخر کا ستاپه بشر

ته سراج ده هغه ملت اودین چه دتا | زاراویلم وجارج دی دنوکرچاکر

نه رسیږی دی چافهم په لوړ تیا ده ده مدح | الوتل چانه سی دلته دتعقل په وزر

په نیت کي که چارحم مجسم وی ته یي | چه غلیم هم نه دی میندلی ستانه ضرر

بی له تیښته نه دی بل څه په قسمت دغلیم | زمری ته دریدی نشي دالنتر

منزلت درکړی دی تاته خدای دومره چه دی | وه مراتب لوی تاته دی عمیق ژور

وه فراست ته دی انګلیندکي ارلان حیران | په ذکاوت دی پطربورغ کي ووماشدر

ترهغه پوری چه انسان وی په انبرکه مقیم | ترهغه پوری چه پرڅای خپل تینګ وی غر

ترهغه پوری چه دنیاکي وی ماشام وسهار | ترهغه پوری چه انسان چه انبرکه وی بر

ویدی سترګی موروښان په دی ضوراج | سوری ستانشي کم وه پسانه له سر



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

براعظم دایشـــیـاوشـــي ســـتـامحکوم یوروپ امریکـه وافریقـه دی درکې داور

څــه چــه قـدرمــادرتــه پســـیـنـوویـل که دتاخوشـــي وی زه تردی وه به وایم بـــــــهـــــــتـــــــر

ای رســوله چزارخاوری دی اکثیرنه ســی چې شــهنشــاه له الطاف په تاوکړه نظر

عبدالرسول محمدزائی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهمه شمار۴ مخ شپږم کال صفر ۱۳۳۵ هـ ق ۱۱ دسمبر ۱۹۱۶ م ۱۹ قوس ۱۲۹۵

# حیات ملي

افغانستان خلق زمری دی په افکاربه شي خیالات دبدو ورته کړی نګون ساربه شي

افغانستان خلک قانع په خپل دولت وملک دی صبر په خپلو غروکوی مانع دبل دملک دی

تابع دشاه په فرامین په سل رنګه تل دی که سپک نظر ورلره وکړی پاس په داربه شي

تاسی دول یوروپی په خپل مابین کي لتاړ دوه کاله کیږی چه جکړم په دریابوبه کار

له ایشي لری غواړي وچلوی په موزه بار دین اسلام زموږ قوی ده خورا روزاربه شي

تاسی دول یوروپی په ایران راغلی تمام فریب موجوړکړ دیئنو چه په کي جوړ کړی مقام

تفریقم واچاوه په دوی کي دنرمی په کلام خیال دایران موږ لره مکړی په اوساربه شي

ملکم یورپده جنګ جدله په خپل منځ کړی اغاز خویوتربله تمام نشي په چاڅه کوی ناز

داسي فریب ظاهر دخمن بادین هم دین هم راز تیکي نه واوری موږ خبریو په حصاربه شي

داخبرولی څمک لومی دی که څوک پوه شي پکار ایرادمه کوی دی ملک نه دیربه وینی خار

بیا به پښیمانه شي ناری سوری به وکړی په زار صاحب ددین رسول الله ده په ننګ غاربه شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږامت دمحمد رسول الله يو افغان | په دين ميتن باندې تړلی يو په سر په ځان

ننګ وناموس وملک ساتنم سوی عين ايمان | که نژديکيت دبدووکړی په سنګسار به شي

دانصيحت له زړه سوی ده چه موږ وکه داشکار | ګنه حملولره تياريوپه کو مک دغفار

خصوص زموږ په ملک چه راشي دبنووپه وقار | ددين دښمن زموږ ظاهرياستی مردار به شي

عرض بيګی درست حال ونه وايه دافغانانو مرام | په دی بسته دی مسلمان زموږ دولت ونظام

پادشاه چراغ ددين ملت غم زموږ نشته تمام | کافران واوری درته وايم به کوکار به شي

ملامحمد خان عرض بيګی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم کال یولسمه شماره ۵ ـ ۱ مخ ربیع الاول ۱۳۳۵ هـ ۱۰ جنوري ۱۹۱۷ م .۲ جدی ۱۲۹۵

## ذو القافیتین ترجیح بند

موږ کـه بـــه تعلیم یـافتـه وی داثـار هم کـامـل وای پـه صـــنعت دکـار وزار

اوس زموږ بـه وای پـه دنیـاکي اقتـدار هم بـه زموږ وی ډېرهیبت پـه ټول کفـار

ټول جهان دی رسیدلی ومقصد ته په مدار مگر موږ خویوتراوســه لاپـه خوب کي دســـــهـــــار

دالاشـکرچي اعلیحضـرت دی ډېرهوشیار ورنــه مونږ بـه وولـه پخوانـه ډېر خوار

ګل علمونه حاصـــلیږی په دی دهرکي په قـــــرار کـه تعلیم کړی طـالبـان زموږ دوطن پـه هـــــردیـــــار

کـه فـقـه اواصـــول شـــي خـبـردار بیـابـه خبرنـه وی دعربو پـه اشـــعـار

که چیری زده کړی په منطق کي څه ګفتار دی بـه فقـه ګوری پـه نظر داســـتحقـار

که دی حاصل کړی په حساب کي اختصار بیـا بـه نورعلمونـه دی ګونـدی بیکـار

نه خبر له مساحت اواقلید سـروی زمایار نه خبر له طبعیات نه واقف وی له اخبار

ارســـطو منطق پســـی ګرزیدی بســـیار دبـیـکـن مـنـطـق تـاتـنـبـدی پـه تـلـوار

علوم که مغربی که مشـرقی دی رائج کار کفـارچـه پري خبردی نکوی زان عـار

دی خووی دنصــــاراله حرفتون پرهیزګار پـه داشـــان کلـه پرهیزکـاڅوک لـه کـار

استعمال دضـفوپی په داشـان کړی دی په جـــــــار چه مدام دده په سروی دانګریزدسان دستار



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دايي نتيجـه دبی خبری دطلـب خوار چه دی نکړی هيڅ پروا دزمانی په کاروبار

که څوک ده ته بی خبروايي دحسـدشـي په گـــذار مگردی پــه حقيقـت کي بی خبرگنی تلوار

الغرض په سلوکس کي څوتن بيا په شمار چه دوپی وتړی په ســردفضــيلت يوســپين دســـــتـــار

بيابه هم هغه عالم فاضل به نه وی خبردار چه والی دچين موڅوک دی هم پادشاه دتاتار

توبه ده له شـــکوی دعالمانو صـــدهزار ولی عــالمــان دی دنبيــانو ميراث خوار

پــه ايـذ اوحســـــد نـــه دی زمــا گفتـــار زه محب دعالمـانو هم ددوی يم خدمتگار

هغـه څوک خوکـافرکيږی پـــه دی کــار چه دی گوری علما ته په نظر دخوارو زار

اوس خوداضـــروري دی مونږ.زده کړو له کـــفـــار هنردفلاحـت اوتجـارت هم کبنـــتوکـار

په فرانس کي دومره پوڅکی وی بيشـــمار کلـه وی زمونږ دوطن دولی بيخ يـادچنـار

په فرانس کي له بســوی نه حاصــليږی دامــــقـــدار لکـه دلتـه جريـب اودقولی وی پيـداوار

دځمکو زراعت په فلاجت دی انحصـــار بلکـه ټول جهـان پـه زراعـت دی مرغزار

زه چـه نظروکړم پــه حـالـت دزمينـدار بی واره په ژړاشــم په صــداشــم په کوکار

دوی خوبی تهذيب اوبی هنردی هم نادار بلکه بی خبردی په صــنعت دکبنـــت وکار

لاتراوســه يي هغه درانه جغون هم اسـپار بل لاداچه نه پوهيږی په ســـادين هم په شـــــــديـــــــار

دوی مدام وی دبرشــــايق په داســـي کار چه دوی مړه کړی يوتربله په يوه لپه جوار



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

گر چه دهقانان موبی هنردی هم ډېرخوار  بیاهم ســـل ځله بهتر دی له عابد رشـــوت خـــــــــــــــــــــــــــوار

نکړی راشـــیان خوبی رشـــوته دچاکار  ګـویـا دوی لـره حـلال  دی دامـردار

رســـول دی لعنت کړی په راشـــي باندې بـــــــــــــــــــــــاربـــــــــــــار  هم پـه دی بـانـدې عتـاب دی هم عذاب دی دقـــــــــــــــــــــــهــــــــــــــــار

په دنیا اوپه عقبا به یې رسوا کړی کردګار  هغه څوک چه رشـــوت اخلی له مســـکین عاجز خوار

نورڅه مه وایه افغانه په باب ددې مردار  ولی اوس خودوی دی عزتمند هم باوقار

چه کرم زورم نشـــته په فلک ســـفله پرور  ورنه مابه په یخ کړی وی څګر هم خپل تتر

غلام محی الدین افغان



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ـ ۷ شپږم کال ۱۲ شمار ه ربیع الثانی ۱۳۳۵ هـ ق ۲۵ جنوري ۱۹۱۷ م ۵ دلو ۱۲۹۵

## ,,خال وخط کې به انشاء کوی ترکومه,,

ته چي زلفی دیارمشـــک وعنبربولی پـه داچین کې بـه خطـا کوی ترکومـه

یاچه شـــوندی دیارلعل وشـــراب بولی روانــه کــې نــارواکــوی تــرکــومــه

بیــاچـه مخ ددلبر شـــمس وقمربولی پـه تخمین بـه داســـود اکوی ترکومـه

لمرپـه دوګوتوهیچـا نـه دی پټ کړی تــه بــه دادحق اخفـا کوی ترکومــه

نـه رســـیږی دچـالاس پې وکـاکل تـه تــه دزلفو بــه ســـوداکوی ترکومــه

دلــبـران تـول بـیـوفـادی وفـانــکـه تــه بـی طـمـع دوفـاکـوی تـرکـومـه

معشـــوقـان دعـاشـــقـانوقـاتلان دی تــه دتـرکـوتـمـنـاکـوی تـرکـومـه

په یوه اداء دی درســـت عالم قتلیږی تــه بــه دانــازواداکــوی تــرکــومــه

پـه یوه نګاه ژوندی پـه بل دی مرمـه دغـه لوبی بـه پـه مـاکوی ترکومـه

دزړه وینی می غـذا دوامی نشـــتـه تـه بــه مـاتــه لابـدوا کوی ترکومــه

دادتـرکـودغـمـزوزخـم نـاســـوردی پــه نـاســـوره مـداواکوی ترکومـه

دجفـا پـه تیغ دی تول جهـان تبـاکیق تــه بــه داجوروجفـا کوی ترکومــه

دادزلـفـواودخـط لشـــکـری ګـوره پرســـپین مخ باندې غزاکوی ترکومه

جرمینـان اوانګریزان ســـره جنګیږی تـه بی ســـیل اوتماشـــاکوی ترکومه

درست جهان پرشور راغلی نه پوهیږم چه بی ســـیل اوتماشـــاکوی ترکومه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفرنګوپه تيغ زړه زما ســوری شــو دجرمن بـه تـمـنـا کـوی تـرکـومـه

ديورپ وحال ته ګوره حال په څه مو خوشــحالی به په ايشــيا کوی ترکومه

راشــه راشــه ســترګی وموژه بيدارشــه دنرګس پـه تمـاشــاکوی ترکومـه

ســم ســړی ســه مجنونی پرپرده افغانه ارزوپــه دلــيــلا کــوی تــرکــومــه

دغنچې په شــان خاموش ســه خوله که پــــــــــتــــــــــه ته به ګل غوندی خندا کوی ترکومه

حميد څه شــو جه بيدل دپښــتنو وه ته رحما ن غوندی وينا کوی ترکومه

نه څوک غوربــاســـی نه پنداخلی افغانه چپ ســـه تـه بـه داوينا کوی ترکومه

مولوي صالح محمد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ـ ۷ شپږم کال ۱۲ شماره ربیع الثانی ۱۳۳۵ هـ ق ۲۵ جنوري ۱۹۱۲ م ۵ دلو ۱۲۹۵

# غـزل

| | |
|---|---|
| نوی خلق نوی رســـم نوی کــاردی | نوی ګـل نوی بلبـل نوی بهــاردی |
| نوی شــــاه نوی ســـپاه نوی فوجونه | نوی ګز نوی ســــکه نوی بازاردی |
| نـوی نـوی زلـمـی وینـم زاړه ولاړل | نوی کوټ نوی پتلون نوی پیزاردی |
| نوی برزګ نوی زاهد نوی حکمونه | نوی نوی په هرجای کې دره ماردی |
| نوی من نوی دړی نوی وزنونــه | نوی نوی ســـوداګرنوی بی پــاردی |
| نوی یارنوی ربیارنوی خوراک شـــه | نوی نوی معشـوقی نوی سـنګارشــه |
| نوی ورد اووظیفه نوی شـیخی شــوه | مسواک ایښی هرچانوی په دستاردی |
| نوی مینی په دنیا کې شـــولی دېری | پــه زړ ومینودچـاکلـه اعتبــاردی |
| نوی نوی قصـــــی اورم حیرانیږم | په جهان کې یوتربل نوی زوکاردی |
| زاړ ه چې نوی راشــــي نوی همــه زوړشـــــــــــــــــــــي | داحکمـت نعمـت الله دپـاک غفـاردی |

ملانعمت الله



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلمه شماره شعبان ۱۳۳۵ هـ ق ۲۳ می ۱۹۱۷ م ۲ جوزا ۱۲۹۶ هـ ش ۶ – ۷ مخونه

## شپږم کال

### مسدس

یوسـحر زمـا ترغوږسـوه لـه بلبلـه چـه قـفـس کـي يـي ژړل دايـه ويلـه
چه بندی سـوم دصـياد له سـخته دله ولی نه پوښـتی څوک حال زما يوله بله
ولی نشـتـه بی فغـانـه کـاروبـازمـا ولـی حبس ابـدی راغـی پـه وارزمـا
نـه محرم چه دزړ ه حال ورتـه بيام کم نـه می وس چـه خبرداره بلبلان کم
نـه ملګری چـه چمن تـه يې روان کم بيـا بيـان ورتـه دګـل ودريحـان کم
خپـل ډک زړه دارمـانو ورتـه خـالی کم تول مرغـان دچمنو پـه ځـان حـالی کم
چـاتـه وژاړم پرچـابـانـدې فريـاد کم چاته خاوری پرخپل سـرباندې بادبادکم
چاته وګورم په څه شـي زړه ګی شـادکم دصـياد له لاسـه چاته عرض ودادکم
څه راوسـوه چه دتو رقفس بندی شـوم ! نه خلاصـيژم په دابندکې ابدی سـوم!
ولی زه لـه خپلـه سـيلـه راجلاسـوم ولی زه لـه خپـل وطنـه راجداسـوم
ولی زه پـه ويراختـه پـه واويلاسـوم که وروکلی می سـوپاته خوارتنها سـوم
کوم ظـالم کړمـه بندی خدای دی بندی کـی ! خدای دی ما غوندی اخته په جدايی کی !
اوس بـه زه لکـه هـانورپـه هواتلمـه پـه هـوس دازادی بـه بـالـيد مـه
پـرغـنـچـوبـه دګـلانـومسـيد مـه ورځ پـه ورځ بـه غوړيد مـه لوبيد مـه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

چابندی کړم خدایه تی په ځان اخته کی　په قفس کې دزندان جګرسوخته کی

اوس به ګرزیدم ازادپه چمنوکي　الووتم به په صحرا اوپه باغوکی

بنه به ګرزیدم خوشحاله په شګوفوکی　ولی اوس یم په غموپه اندیشوکی

چه بندی دی دقفس کړمه صیاده　خدای دی ماغوندی بندی که ای ازاده

الغرض چه ده وهلی دانعری　دقفس له لاسه ووپه غلبلي

چه ناګه دچمن بادراغی د کشي　چه پرونشست دایه وواته له خولی

مګرداباد دوطن دخوا راغلی　چه زما صبروارام راخخه وړی

یوساعت متفکرووحیران پاته　نه یه شکروشکایت کاوه وچاته

چه بیا باددچمن راغی دده خواته　اه یه وکش عرض یه وکی وخپل خداته

لکه زه هسی بندی سی ای صیاده　دوطن په جدایي سی ای صیاده

زه چه فخر دچمن زیب دبوستان وم　غوړیدل ګل دخپل ایشان وم

دباغودشوباغچو روح روان وم　دسروګلوپرشاخوبه نغمه خوان وم

دپولادوپه پنجه کې دبندی کړم　دهرکس ودناکس دی ریشخندی کړم

زه به تل دباغ پرسر شه په هوا وم　شاخ پرشاخ به بیا په څه نازوا داوم

دګلانوپرسروبه په خنداوم　په ځالی کي به وم ناست یاپه صحراوم

نه بندی وم دقفس نه می هیخ غم وو!　نه می اوشکي بهیدلی نه می ماتم وو!



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه سحر به زه له ځالی په هواسوم  په ګلشن کی به دعشق نغمه سراسوم

چه له پورته به پرګل باندي راتاسوم  وسمن ویاسمن ته به ګویاسوم

ایاڅوک لری داعیش وعشرت نن زما  چه ندیم وګل خانه ده په چمن زما

هغه ګل هغه پسرلی هغه بهاردی  دنرګس اوشکوفه ګرم بازاردی

دطوطیانوپه ګلشن کي چغهاردی  په چمن کی دبلبلو چنهاردی

پرګلانوالووته کاپه خندا!  زه بندی یم دقفس اوپه ژړا!

زړه می ډک دی سره چووی دارمانه  خدایه ژرمی خلاصوی له دی زندانه

نورمی مه پرېږده په دی ځای کي سبحانه  بیامی ورسوی ژرترخپل بوستانه

که دی زه یمه قفس ته پیداکړی !!  بیاوزر دولی ماته دی راکړی !!

څوترڅوبه یم په دی جوروستم کي  ځوترڅوبه یم په اه وپه الم کي

څوترڅو به په ژړایم اوپه غم کي  څوترڅوبه یم دارنګه په ماتم کي

چه امید می دخلاصی نشته هیڅکله  نوبهتردی مرګ تردی ژوندیوپه سله

بیانوچپ سوپرساعت په تأمل سو  زماخیال سوچه دغم متحمل سو

بیایي ناری کړی همرازه دسورګل سو  ویل اه چه دصیادلاتغافل سو

ځان که مرچه له ذلت نجات مومی  په ګوشه کي دعدم به حیات مومی

که څه نه دی شه وماته په داشان مرګ  ولی ولی ځوان یم اودځوان وی دارمان مرګ

خودژوند دپاره شه دی ناګهان مرګ  په هزارځله بهتردی ترزندان مرګ



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه داهرســـهارخپل مرگ په قفس وینم　ولی نــه مرم چــه بــه بیــا زه قفس وینم

پــه حســـرت اوپــه افســـوس بــه داویلــه　وګلشـــن تــه یې کتـل بیـا یې ژړلــه

دقـفـس ودروازه تــه یــې ځـغســـتلــه　لاریـه نـه وو وزرویې ســـرپـه ولــه

پــه هواســـوســـربی ونشـــت لــه قفس　وینی توی سـوی سـوړپوړولوید له هوس

ســـرترپاته په ســـرووینوکي غرقاب وو　ځان بایللی زړه زخمی حال په خراب وو

یابیهوشـــه یا پرهوش په اضـــطراب وو　چه پرهوش به شـــوګویانه په داباب وو

ســـرمــی بــایــلــووپــه هـوا دازادی!　شـــکرشـــکرســـوم فـدا دازادی !

پــه هـوا دازادی مــی وزرپـرې ســـو　شـکرشـکرازادسوم که می سرپری سو

شـــه چـه زه دازادی پـه هوا مړســـوم　نــه چــه پـاتــه پــه ذلـت دتلوپرســـوم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

یووپشتمه شماره ۲ صفحه شپږم کال ۵ شعبان ۱۳۳۵ هـ ق ۶ جون ۱۹۱۷ م ۱۶ جوزا ۱۲۹۶ هـ ش

چــه پرخول دپـادشـــــاهانوغـتې زکین دی هغــه زموږ ســــراج الملتــه والــدین دی

مقتـدی اعلیحضـــــرت رکن رکین دی دوعا کوی صــــبح وشـــــام روی زمین دی

پـراســـمـان دعزت نمردی غوږیـدلی مســـلمـان دده پـه تخـت دی نــازیـدلی

مـلاکړه تیټـه اســـمـانو دده لـه تیغـه چــه قـتـل ددښـــمـن کـړ بــی دریـغـه

کی قبا که کی خســـرو دی که داراب دی تللی ډوب دده پــه درپــه دق البـاب دی

تمنــالری چــه موچې یې رکــاب کړی اوپــه ســـترګویې داس دپلــه تراب کړی

مـمـلـکـت زمږ ابــادتـول یـې ګـلـزارکـړ خپل دخواه خپل دشـــمن یې تارپه تارکړ

سیدمیرمحسن کندهاری



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱ شماره ۲ مخ ۶ کال ۵ شعبان ۱۳۳۵ هـ ق ۶ جون ۱۹۱۷ م ۱۶ جوزا ۱۲۹۶

ســه عجب خوب وو چه می ولید ه ســحر  زه یم پــه یوروپ کې اوګرځیږم لروبر

ټول یوروپ اختــه دی پــه غوغـا پــه شــــــــــــوروشــــــــــــــر  یوتربلــه وژنی پــه ټوپــک اوپــه خنجر

ماوی دابه ملک وی دسینا ۱ یاد بربر ۲  ومی کړه پوښــــتنــه لـه یوچـانـه پـه مـدار

وایه چې داملک داشــــاننی ۳ که غوندار ۴  دی خوپه افسوس اوپه حسرت شو په ګفتار

چه داملـک دعـاقلانودانایانودي بســـیار  داهغـه یورپ دی چــه دی جـای وودهنر

بیامی له هغه نه اســـتفســــارکی په داباب  دوی ولـی پرپوتـل دزمـانی پـه دی ګرداب

ده وی حقیقت کې پرنګیان ووپه شـــتاب  چه ورک دی له جهانه مســـلمان شــــي په عــــــــــــــــــــــــــــــــذاب

زه که اوس خودوی شــــول په دنیا کی په خـــــــــــــــطـــــــــــــــر  څوک چې وی مغرورپـه خپل قوت اوپـه حکمت

دی خوبه زرپریوزی په کوهی کی دزلت  نـه بی وی عزت اونـه قدرت اونـه طـاقت

چه لری مصـــــیبت کا اوحاصـــل کاندی راحــــــــــــــــــــــــت  ســـوک چه دیرمغروروی دهغه خاوری په ســــــــــــــــــــــــــــــر

۱-سینا یعنی ابن سینا ۲- بربرشمالی افریقاته وایي په شرقی افریقاکې دی

۳- په جنوبی افریقاکې دی ۴- دحبشستان په وسط کی یوکلی دی

بخـت کـه چـاتـه شــــاکـاکـه دانـاوی دجرمن  خپل دانائی به یې په جان ســـی شـــعله زن



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـه بـه درتـه وایـم دفـلـک پـه دوروغـن    نځینی خلاصـیږی لـه اسـیـب مرد وزن

سخت ساعت هغه دی چه هوښیارسی کوروکر    بیا می دهغه نه په دی شـان وکی سـوال

چـه کلـه بـه ختمیږی پـه یورپ کې داجنجـال    ده وی که چیری ورک له جرمنیانوشـومجال

یـاکـه روسـیـان شـي پـه دنیـاکې دیرپـایمـال    یـاکـه انګریزان شـي لـه قسـمـت یروزبر

بل خوبه اسـلام شـي په دی جنګ کې کامیاب    که چیری کل اتفاق کړی اسـلام ددین په باب

بیا به نشـي په دنیا کې یاره داسـې انقلاب    اوس خودېرضـروري دی چه اسلام شـي فتح یـــــــــــــاب

ولی دښـمنان دی په خپل کورکې سـرپه سـر    بیـاهغـه وپل چـه تـه هم څوک یې پـه خپل تن

چه دلته یې راغلی اوصـورت دی وی غمجن    جاوا ا که سـما ترا ۲ که بورنیو ۳ دی ستاوطن

یـاکـه تـه یی دکـابـل یـا پیښـوریـادختن    ماورته بیان کې خپل اصـلی نام ونشـان

چه ته داسـې بیخبریې له دنیا له خیروشـر

چېرتـه چـه اوسـیږم هغـه ملـک دی دافغـان    دېردی زموږ په ملک کې عالمان هم فاضلان

چه دوی وایې دیوروپ وحکیمانو ته خواران    بـل موږ یودېرمـاهرپـه کـاروبـارکې دجمـدر

۲-۱ دبحرهند کی یوه لویه جزیره ده    ۳- بورنیودمحیط کبیریوه لویه جزپرده

بیاراته ګویان سـوهغه ځوان په دی مضـمون    سـتاخوهم څه زده دی یاته هسـی یې پښـتون

ماویل چې پښـتانه خودې په علم کې جیحون    زه یم له هغونه یوادنی سـړی کرمون ۱

پـه اتوژبو پوهیږم درتـه وایم مختصـر    یعنی پـه پښـتواوپـه هنـدی کې یم مـاهر

عربی اوانګریزی خوهم پوهیږم پـه ظـاهر    ګورمکې اوشاستری ته په ښه شان یم حاضر

پـه اردو اوپـه فارسـې کې یاره زه یم محرر    نورعلوم هررامعلوم دی برادره مـاش قـدر



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خوپه خندا اوپه قهقهه کی استفسار    اياتاسو هم پوهيږی په کروړز ۲ اوطيار

ياکه هسی جان خوستايي ددهيلی دپنجسوار    اوس خو عالمان خانه هغه دی په گفتار

چه دوی جوړکي دردناتونه ۳ په حکمت اوپه هنر    اوس په درته وايم دخپل شامعلم وهنر

دی خوشه پوهيږی دخپل قوم په خيروشر    بل داچه شه واقف دی ديوروپ په شوروشر

ځکه موږ پراته يولاتراوسه بی خطر    ربه ته موساتندوی شي په دی ک دی ضرر

بل دی ترقيخواه دخپل وطن دی په دی شان    چه په ملک کي جاری کړی مکتبونه له احسان

هرسړی ته اجازت دی په داخل کي پسران    په مکتب سرکاری کي بی تکليفه بی نقصان

بل په ملک کي يي جوړ کړی سرکونه هم انهار    چه له دوی نه حاصليږی ددنياکل اعبتار

تجارت وشراکت دی جاری کړی شهريار    چه په ده باندې موقوف دی دجهان کاروروزگار

هم دهرتعليم دپاره استادان دی ميسر    بل داچي موږ لمسی يودطالوت درحقيقت

چه رب دمت عطا کړی وقوت هم دپرغيرت    هغه ان چه طالوت وکي په جالوت باندی هيبت

له طالوت سره څوتنه اوکفارو ووپه کثرت    مرداريی کړ جالوت په خپل همت اوپخپل سخر ۱

سليمان عليه سلام چه وه پادشاه د کل عالم    دهغه په زمانه که خو لازيات وو زموږ حشم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولی چه اصـــف دبرخیاوه وحضـــرت ته محترم
موږ به ولی ځان نه ستایو په دنیا کې مکرم

هم موږ به په حرمت او عزت یوترمحشـــر
بل نیکه مو عبدالرشـــید وویار هســـی غازی ځوان

چه مدام به دده نوم وی په دنیا کې نمایان
هم دی په خوله او په زبان کې وویکســـان

بل دی عالی همت وه په دنیاکې په شه شان
هم په خوی هم په خصـــلت کې چانه ری وولکه لمر

بل خوا احمد شـــا ه درد وران وه دافغان
پـه ده بـانـدې قـایـل دی یـاره کـل مرهتیـان

بل خو موشـــیرشـــاه ووپه مثال شـــیرزبان
له هیبت نه یې روان شـــه همایون مخ په ایـــران

که بیان یې عدالت کړم ته به پاته شـــي ششـــدر
حیدرخان وه یو افغان باغیرت اوباحرمت

چه ده وه حاصـــل کړی ســـلطنت په خپل همت
انګریزبه وه خارج له هندوستانه په شدت

که چیری نظام نه وی دانګریز و په مدت
کـه تیپودرتـه بیـان کړم هغـه هم وو لوی اژدر

بـل موانګریزانوتـه معلوم دی شـــجاعت
چه دوی وورا ختلی ودې ملک ته په غیرت

اکبرخان ورشـــکاره کړی یاره دوی ووته همت
دده په همت باندې دېرقایل دی جرنیل نت

انګریزان دی شـــرمیدلی په دی ملک کې مکرر
اوچت خودرته وایم چه بیا جنګ وه دمیوند

دېرکفارشول قتل په دی جنګ کې هم په بند
ونیول غـازیـانو دېرکفـارپـه خپـل کمنـد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرداری یې په تبرکړل په خنجرکړل چند وی شـــړل له ملکه په همت دخپل جمدر
درچـــــــــــــنــــــــــــــد

بیا راته ګویان شه هغه ځوان په هسی شان زه درنه پرسـان کړمه حکمت دایروپلان ۱

ته خوراته ســتایې خپل نیکونه خپل دوران ایاتاســـو هم څه کړی شـــې په جواب کې
زیـــــــــــــــلان ۲

یاکه هســـی ځان ته وایې موږ یوشـــیرببر افســـوس صـــدافســـوس هم افســـوس دی
صـــــــــــــــدهــــــــــــــزار

چه زه شـــوم لاجواب په حکمت کې دطیار ماویل افغان اوس همت کړه په خپل کار

ونیســـه له ســتونی په داتکه یی ۴ کامردار

غلام محی الدین افغان

ایروپلان – طیاره ۲- زیلان سیودول دجهاز ۴- تک – فوراء



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ مخ ۷ کال ۳ شماره ذیعقده ۱۳۳۵ هـ ق ۳ سپتمبر ۱۹۱۷ م ۱۱ سنبله ۱۲۹۶ هـ ش

اول حمد د هغه پاک پرورگاردی چه مغزژده ممکنات په مقداردی

زیاته ونکي دعزت دترقي دی رسوونکي ده ذلت اوده شقی دی

خدایه ماله شقاوته په امان کړی په خاطرمی ده نبی اخرزمان کړی

هم پادشاه سراج الملته والدین چه مالک دتخت وتاج دی په یقین

اهل بیت سراجیه کړی ټول مامون دښمنان خواروخسته کړی زړه زبون

هم صاحب محمود طرزی کړی په زړه شاد چه مدیردی داخبارهرځای کی یاد

علامه د زمانی روشن ضمیردی باحکمته پرغیرت باتدبیردی

نیک نامی ورته حاصله مالامال کړی حاسدان یې واړه پښو لاندې پایمال کړی

مولانا محی الدین صاحب غمخوردی دتمام افغانستان دسترگوتوردی

په درویشتمه شماره کې داخبار یواعلان په پښتو کړی تیار

هرافغان ییپه مضمون باندې رسیږی په لوستویې یوتربله هوسیږی

ایراد نشته په پښتو کې ای صاحبه فضل شوی په افغان دی لواجبه

افغانان بهادران دزمانی دی نوراقوام ورته په شان ده زنانی دی

هردولت کې مشهورلکه دنمردی دغلیم په سرولاړ لکه خنجردی

افغاني ژبه ده غیرته ډېره گرانه خدای زده کړی ده افغان ته په اسانه

ده دی ژبې مبارک ډېرعزت دی پردوملتوکې یې حرمت دی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربه تاکړی پرموږ باندې احسان دی | چه راکړی دمدیر دېرمهربان دی
په خدمت کی ده مدیر صاحب عرضونه | څه عاجزغریب کوم په تعظیمونه
که اخبارشي مزین په افغاني | نورانی به شي افغان په معانی
دیورپ په حال به واره خبردارشي | له غفلته یوکرته به بیدارشي
که خدای کړی ترقي ده افغاني وی | دپښتو اخباریې سرده ودانی وی
ای خاوند ه ذوالجلاله باری خدایه | ترقي پښتو ورکړی بی نهایه
چه فقیر عبدالسلام کامه وطن یم | اوسیدونکې مستعلی کې شه وطن یم
امید واریم په خدمت کی دمدیر | چه اخبارکې شي داخل زماتحریر
سنه دری سوه یوزرپنځه دیرش کاله | تیردهجرمیاشت وه سلخ دشوال

عبدالسلام



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ مخ کال محرم الحرم ۱۳۳۶ هـ ق ۱۸ اکتوبر ۱۹۱۷ م ۲۵ میزان ۱۲۹۶ هـ ش

## پنځمه شماره

## داسلام وپادشاه ته دوعا

فخردین شـــمع دولت احمدی ملت ســـراج | د خلت په خلصت شاد شه حکمت په شه تـــــــــاج

کوزدنشـــي تخت وتاج له جوړشـــوی له ســـرایـــــــه | عالی خیال دی کوثرمومی چه مخلوق سی پــه ســـیــرابــه

تـه راضـــی ســـی پـه دوه کونـه میســـر دهـــــرعســـــیـــر | لـه امیرابن الامیر ابن الامیرابن الامیر

ثقافت دخلافت یه په حکمت د خپل قدرت | یوخواهش دداعیـانوبـال وپرکړی دقربـت

شـه امیر حبیب الله ته کسب وکاردرحبیب ورکـــــــي | ربه ته یه معاون سی په نصرت په مظفرکي

حبیب ګوری له یثربه هرســـاعت تاته ای وروره | سـرچشـمه داسـلام نه یي حق تعالی د مکړه خـــــــــړه

امت باغ دمصـــطفی دی ســـرچشـــمه یي ســـــوافســـــر | سرد مصسه کوزله موزه په حضوردپیغمبر

دتمام امت بابا ســـوی ترزاړه واړه هلکه | ســـتاعزت داســـمانی وی نـازدمـه لویږ ه پــــرځـــــمــــکـــــه

یـاالله العلمین پـه طفیـل دمصـــطفی | شه خادم دشریعت که چه جهان مومی صفا

درحمت ســـایه اوژده کي چه اســـلام په ا ســـــوده شـــــي | بی دینی که سی راپورته ریشه تخم به پوره شـــــــــي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــکســته قلم تمام ســوزیاتی نه لری زبان ربـه تـه پـه رحمت دېرکـه چـه مظهرشـــي درحــــــــــــمــــــــــــان

که په خپل عمر پودعا لرم په خدای قبوله دپادشاه په شان کې بنايي هم مشروع موهم قـــــــــبــــــــولـــــــــه

هم زمـا بخره پـه کې هم نصـــيـب دعلم وخــــــــــــــــــــــاص که پادشا صاحب دنیت وی کل عالم به سی خواص

ســـعـادت دســــلاطینولکـه ابردنیســـــان مشترک ددرست عالم شوکه انسان دی که حـــــــــــيـــــــــــوان

باری ربه له تاغوارو چه مو هومره دبدبه ســـــــــــــــــــــــــــــی زمورږ دتوری له هیبته کفره په زلزله ســــی

دبدبـه موســـوه بـالاانشــــاء الله لـه اتفاقـه دادعقل شـــمع کوره نوی راغله له خلاقه

عادتی قاعدی داوي همیشه به شیر حریری شــــــــــــــــــــــو ایزدی عنایت گوره جام دزروکتوری ســـو

لوی امید شـــو وخالق تـه چـه مورب کې ســــــــــــــرفـــــــــــــرازه موزبالیللی په دغه وه چه مواخته وه بیغازه

امید واریوباری ته عمارت به موبلند ســـی دتحقیق توفیق یـه راکي واره لوتی بـه مـــــوقـــــنـــــدســــــی

لوی امید لرم ورب ته چه همت مو توله دیــــــــن شــــــــي شـــیاطین مخالفین اعداد دین موبه ناورین شــــــــــــــــــــــــي

دتهذیب اولواجباب کتاب ځخه انتخاب



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ مخ ۶ شماره ۷ کال ۱۵ محرم الحرام ۱۳۳۶ هـ ق انوامبر ۱۹۱۷ م ۹ عقرب ۱۲۹۶

# افغاني ذغزل

دپشـــو پس خورده نخورم زه مکروه کله کـــــــومــــــــه !! دمړه ورور په ورســتو غوښــوځان وکلی مـــــــــــړومـــــــــــه

که موژک په ځاه کې ولویدد ری ورځی می خــــــواکـــــــــرځـــــــی په مرد اروبدو غوښو هرساعت خوله لګومه

په ښی لاس کې می عصاده چې ثواب می علاوه شي په بل لاس کې می اره ده دخپل دین ریشـــی ریــــــــبــــــــمـــــــــه

دین موتوله طبیعت واصــطلاح وبرعات شــــــــــــــــــــــــو تش الفاظ می دی پـه خولـه کې چـه ددین دعوی کومه

که خوشوی په ډوډی ګډ سودعیال له سری ولـــــــــــــــــــــــم په خبره غلیظ اخلم خوله ووزړه مرداروومه

زه په خوله خوله ها ها لرمه چه مرغی دانـــــــه یـــــونســـــی پـه لاســوکې می اورتـک دی پـه کلـه۱ ورلـــــــــکـــــــــومـــــــــه

دشپیتوکلو طاعت و عبادت پرمخ تیرنکړم پـه مثـال دکول غویی یم پرمخ ځم پـــــــرشــــــاراخـــــــمـــــــه

مولاياشـــه راته وايي که موژک دننه نه وای د کلو غله می څه ســوه چه ښی په ډکومه

علت توله کم علمی سوه بی ترتیب په دین کـــــــــــدســـــــــــو فرایض می بیکاره کړه نوافل پرسترګوږدمه

نوافل چه توله جمع دخپل عمر دکلو کړم درشـکې قیمت بی نسـی چه یوزخم په تړمه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعالم خوب چه بهترزما ترطاعت وعبادت هغـه دغـه علم بولی چـه حـدود وپیژنمـه شـــــــــــــــــــــــــــــو

اول ځان بیا تاته وایمه راسه دین ته ترتیب کـه پرځی کـه نـه پرنـه ځی زه یـه ترتیـب کشیژده بیانومه

۷ مخ ۷ کال ۷ شماره صفرالمظفر ۱۳۳۶ هـ ق ۱۷ نوامبر ۱۹۱۷ م ۲۵ عقرب ۱۲۹۶

| | |
|---|---|
| دغـه څـه عـجـب دوران دی | چـه راغـلـی پـرافـغـان دی |
| لـمـردعـلـم راخـتـلـی | پـه روشـان تـولـه جـهـان دی |
| وقـت دعـلـم ودهـنـردی | نـوردعـلـم درخشـان دی |
| نـن دجـهـلـی بـازارسـوړدی | دهـرعـلـم تـوددوکـان دی |
| داخـوعصـردسـراج دی | چـه افـغـان تـول پـه روشـان دی |
| عـجـب عصـردی ای وروره! | چـه ځوان زوړ اوزوړ پـه ځوان دی |
| دسـراج پـه نـور روشـان دی | کـه خـیـبـردی کـه کـهسـان دی |
| شـکرشـکر شـه سـاعـت دی | فضـل سـوی درحـمـان دی |
| شـه امـیـر یـه دی راکـړی | پـرمـوړتـولـومـهـربـان دی |
| شـه غـمـخـوردپښـتـنـو دی | دخـپـل وقـت نـوشـیـروان دی |
| عـلـم دوسـت هـنـرپـرور دی | لـوی امـیـر اوشـه سـلـطـان دی |
| مـزاج دان طـبـیـب دمـلـک دی | پـه حـکـمـت لـکـه لـقـمـان دی |
| پښـتـومـړه وه ده ژونـدی کـړه | روح پـروردخـپـل لسـان دی |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| تخت وتاج دی همیشه وی | خوزمین واوزمان دی |
| مشر زوی دامیر کوری | عنایت دپاک سبحان دی |
| شه سردار معین دعلم | دعرفان دباغ باغوان دی |
| هم ناظردمعارف دی | هم ناصر دهرناتوان دی |
| شهزاده دپښتنودې | تاج دسردکل افغان دی |
| شه معین السلطنه دی | پرامیرصاحب دپېرګران دی |
| معارف تولـه دده دی | هم ددې مجلس میزبان دی |
| نازدنه لویژی پرمځکه | خوولاړ شنکې اسمان دی |
| هغه خدای دی ساتند وی شي | چه دټولو نګهبان دی |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ مخ ۷ کال ۱۰ شمارہ ربیع الاول ۱۳۳۶ هـ ق ۳۰ دسمبر ۱۹۱۷ م ۱ جدی ۱۲۹۶

| | |
|---|---|
| دوه مسلکه دی په موژکي یو عادی وپدری شـــــــــــو | بل مسلک راغی له خدایه سما وی وقرانی شــــــــــو |
| چه عادت پردین راغلی هغه دین بـــولـــوبـــیشـــکـــه | اوکه نه وو عادت شوی له ماپاته شوپه کلکه |
| اصـــطـلاح هم بری مداردی حاکم شـــوپـــرشـــریـــعـــت | کتاب تول که یه نغاره څه حاجت دحل حـــــرمـــــت |
| هرحلال حرام دشـــرعی کـه عـادت وو ارجـــمـــنـــد ســـو | که عادت نه وو هرڅونه چه مرغوب وی نـــاســـیـــنـــد ســـو |
| دروا دناروا مســلی زده که له عادته | څه نوکان باســی بیکاره تحقیق کي له شـــریـــعـــتـــه |
| که اویاځله مشــروع موکد وی له قران | چه پســند دعادت نه ووگویا نه دی له قرآن |
| عادت شــه بالانشینه موزیه یوحلقه بگوش | دعادت په ډول رقصیږی که چالاک دی که مدهوش |
| په لحد کي چه دکشیژ د ی تکبیروواپي وتاته | دین عادت که شــریعت ووژرجواب راکه ومـــــــاتـــــــه |
| په هاها به سی مشغوله که عادت ووستاقبله | دعاجزی رســم هغه چه واده په قبیله |
| په قیامت به الله وایي ســپی دی نه خوړڅه جهت وو | زه به وایم باری ربه مناهی دشــریعت وو |
| دیتیم مال چه دخوړ یامال دعصــب دتاراج | ستافتوی له شــریعته که قرآن درکي رواج |
| څه به وایم خپل الله ته تی راوشــیه پښــتو | که مردی د میره نه وومردبه نسی په بریتو |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| چه مرداری غوښی نه خورم عادت کې ترکرزولی | هیڅ پردین دمجری نسی عادت یم ترلاس نیولی |
| ترمرداره دېر بدتروی څنګی خورم په اشتها | دین می څه شوراته ګوری نه می شرم نه حیا! |
| دقران شریف احکام دی قدرنه لری دپیاز | که پرولی په بازارکي څوک یه نکوی په غاز |
| په ابروی داصطلاح وعادت له دی سکه داره | چه روشان په عادت نه وو ټوله پاته شوه بیکاره |
| داعادت دکورخراب سی دین به کی رشکی رشکی | دپادشاه سکه مغلوبه دناچلی پیسکی |
| تردی لوبدبختی شته چه دین تابعه دعادت شي | هرچیری چه عادت راغی منافی دشریعت سی |
| مصطلحه بیدینی لکه خونچه ایشی په میان کې | که عیب نه وه په اولس کي نقص نه وینم په څانکی |
| تخالف له اصطلاحه ترشرعی مکروه مکروه شو | چه قبله یې کړه غلطه دین ترپاته په ګروه ګروه سو |
| که قبله حقیقی نه وه بدهغه چي عیب باله سی | که احکام دشریعت وی په دغه ټول به تاله سی |
| هرتوکرچه عیب باله سی که روا که ناروا | خوراتنګ څنی پرهیز شو دین تابعه دهوا |
| که پیغور دعالم نه وو باکي نه لرم له کړنه | څه به یوسی اخرت له پرملامات سی زمابدنه |
| وخپل نفس ته موسجده شو تن زتارزموژپه غاړه | جهنم په خیال جنت سوحس باطل هوشیاری ولاړه |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| تن بارکش باری درکړی میره هغه چه پرسپورشو | چه یې خرپه ښتکي سپورکي جهان کل دخره ابخورسو |
| بازی توله له غیرته غیرت نوم دی دایمان | که ځلانده شمع نه وه وبه ژاړی په ارمان |
| چه غیرت دمیره نه وی قدرنه لری له توله | په جثه یې خطامه شی بی معنی سرپی بوله |
| نغاره کی پراسمان وی چه هوش نلری ساده دی | که په تخت په هوا درومی سپوریه مه بوله پیاده دی |
| له اسمانه زمکې عرشه څه د راوړه ای خود رایه<br>بدعادت بیانه وم مکرره په باربار | که مبلغ دمعنی نه وویل شی نه وځی له سرایه<br>هیڅ می صبرځینی نه سی ځکه ډیربه سی تکرار |
| له تکرار ه ملال مسه عادت دین دی نزولی | پاک قرآن درب کلام یه په چارپیره دی وهلی |
| له قرانه سره جنګ دی که ملګری دعادت سو | زماوروره په دی پوه شه څه مخرب دشریعت دی |
| توفیق غواړه له خالقه بخشنده دی مهربان | هم ارحم الراحمین دی هم کریم دی هم منان |
| بل طرف ته امیدنسته بی دربارد خالق | دغه باب دغه خلقه سوه سابق ود لایق |
| زاری ګویه یم ورب ته څه عادت مو عبادت کې | یاارحم الراحمین ! رزق روزی موسعادت کې |

تهذیب الواجبات له کتاب څخه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغاني سوګند

| | |
|---|---|
| قبیح مشکله دیوثان دی هلوکان به وی ساتلی | شـي جامی یه په اغوسـتی پیریشـان یې خـــوراښـــــکـــلـــــی |
| رقصـــوی پرمجلس کې فاجران پرګرزیدلی | په بوسـه روپی تراخلی په غاشـوفاسـق نـــــیـــــولـــــی |
| نـه ملاشـــتـه نـه صـــوفی شـــتـه نـه دریم غـــاورپـــــیـــــداشـــــو | چه په لحثه توره ورسـی په غیرت تردین فـــــــداســــــو |
| خوارفقیر که افسـوس وکه یاپه وینو سـترګو ســـــــــــــــــــری | نوریی څه له لاسرراسی که دځان غوښی کـــــه پـــــــــری |
| دونه لویه خرابی وبیباکي په دین کی کیږی | هیڅ میره په غیرت نشـــو نه په زورکې څوک خوژیږی |
| تـه خرواردلواطت ودزنـا پـه میزان تول که | یومثقـال ددي پردرنـد دی کـه نـه وینی سترګی پورکه |
| زناکیږی په خلوت کې داپه ډول ددین خفت | دزنا پرظهورقتل داســـوفخر وســـعادت |
| چه په جهروتفاخروجمعیت ســی معصــیت | بل به نه وی په اســـلام کې تردی پورته ضــــــــلالــــــــــت |
| درست ولس په دی شریک دی داباز خواست به له موژوسی | که څه لری که نیږدی وی هیڅ احدبه پاته نـــــــه ســــــــي |
| پرمومن باندي واجب چه داصـــحبت په غم الـــــــــــودکـــــــه | که به نور له لاس نیســـی یومټ خاوری پـــــــــــــــردوکــــــــه |
| یادټولو په قوت ســره پادشـــاته خبرورســـی | دانخری بـه ســـی محکم خره غوایي به تــــــــربــــــــدرســــــــی |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| چه غیرت پرمینه نه وی موروثه د کل اسلام | خودبه وی په خروپایماله نه موننگ سونه مونام |
| دین دګوتوشوریدن سو تسبیح اړووشي غشي | داتسبیح به دی زنجیرسی ددوزخ داورسکروتی |
| مرد وزن که مسلمان ووباندفرض تراستری دمه | چه ددین نقصان په ولید ځان به نه ولی بیغمه |
| لالا ښکوی درتیرسه داخبرسودنامرد | حیدری ذولفقارکشي که چه هیڅ پاته نسی فرد |
| کل بنیاد دین پرتوره نو راحکام په خال وخط | که په توره تیره نه وی دین په بایلو سوغلط |
| دحسین سرپه تویوی دل کوشه دمصطفی | چه غیرت دعراق نه ووکفیین سوه بیوفا |
| کوم توکردبیدنی دشهزاده ترخون سوکم | چه پشتو سوبی غیرته دین پایمال پررخی دم |
| جواهردشریعت دمصطفی دزره اجزاشوه | چه په سپک نظریې ګوری دېره بده یې جزاشوه |

دتهذیب الواجبات له کتاب څخه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ــ ۶ مخ ۷ کال ۱۴ شماره ۱۵ جمادی الاول ۱۳۳۶ هـ ق ۲۷ فبروری
۱۹۱۸ م ۹ حوت ۱۲۹۶ هـ ش

# افغاني سوګند

| | |
|---|---|
| نواموزه پاکه لوحه چه لیکي هغه خط اخلی | ددې زمکې حکم ستادی که اغزی پرژدی که نخلی |
| دهلک که تربیت وو دپراسان په مراد سی | دطوبی ونه ترسازه پلارپه قبرکې په شادسی |
| چه په چوب وپه شیرینوسر بالادی اموخته کی | خدای رازق دی بلاشکه اماتاپه غم اخته کې |
| چه تومان دده خرخشت وی داپه څه شي موجودیژی | کي دبل پیسه راکش کړه ستاتندی به په داغیژی |
| زړه د کی دزنبورځاله همیشه لکه سرسام | خبرنشو په کمال چه افلاس فخرداسلام |
| مسکنت دشه لقب وودې بی بولی تورفرنک | طبعه واوښته له دینه غریب تاکې په بدرنګ |
| تعجب دی وانسان ته پرهرخیال چه پوخ سوهډ | بیاترمرګه نه بدلیږی که هرڅوسی ګدوډ |
| اهنی سپاره میدوشي ۱ سازکه دتوپکو | دانسان خوی نه بدلیږی که یه ولی په مردکو |
| ارمنی که ایرانی که کشمیری که دکنی وی | چه په هډپوخ عادت پوخ سوپو هغه به یه مرګی وی |
| په قیامت که دیده نشته ولی دلی سوی جدا | چه همه طبعه ددنیاوڅوک ژړاکه څوک خندا |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| پرقدردهم طبعی بی نزدیکت دمصطفی وی | که دلته یه خوی لیری همه به لیری په عقبی وی |
| ده پرنس کانی تړلی ته خوانچې خوری دسالن | دپینه شري اغوستی ستاوریشمین سوپوشیدن |
| دی دزړه لره وربولی ته برتن باندې تمام سوی | بدن تالره غلام دی ته غلام لره غلام سوی |
| بل مثال ددنرودی په د مبال کې دطناب | بیزوبان په تابازی که گرزوی دی باب په باب |
| تن بیزوطناب یه طبعه بیزووانده خپل دشمن | څه ریشخندی یې پرتاجوړکړپرخواهش داهرمن |
| چه یه شکیل دخابو بولی هغه دادی ورته گوره | مردی تولـه په میرانه حبطه درومه ترکوره |
| دنیاکې کودې په نکړی تنگی وتری مرانه | دوه دولته صنایع سی په دوعا غواړې سپیتانه |
| دمردی په کارشرمیږی په سپیتانه کې یه خوند | چه یې خوبنه شوه سپیتانه مرگ یه به ترهسی ژوند |
| په سل کاله نه پوره سونه فربه سو نه سوویر | نه مووویل چې ربه تیرپرتیرسوهیرپه هیر |
| دومره فکرموژله نشته که په دی صورت انسان وای | دبوجهل وبولهب ودفاروق یکسان وایې |
| بازی تولـه درونی ده که د زورفقط سوه سمه | دانسان لقب دیو ی زړه له راسه ای همدمه |
| سره گلان دی غوریدلی بلبلان باندې مستی که | چه وزرو ته یې لاروسوه هغه تول می پرستی ده |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| چه په عرش داله بولی په حدیث که هغه زړه دی | څه دزړه صندق سوری که سیل وکه چه زړه څه دی |
| وروسته وړاندی موجودات یې په یوکنج کې چاپیرړی | لږڅه هوش کړه سړی سه زړ ه پرڅه له تا پاتی یږی |
| مامعنی ومابقی عالم به کله هله مومی | که له تنه سوی فارغه چه دزړه پرلوری درومی |
| نوی نوی اسمانونه بیا بانونه وابحر | ډیربه ووینی یې په زړه که که ته شوی له تن حر |
| له درانه خیال راپرپوزه زړه ایله که رب تی پریږده | که دڅه له تنه پرې کړ ه سعادت دی مخ ته کشیژده |
| بی ګدره ګدیره ډیرعالم دی اوبو وړی | سه مشغول په هغه کارچې په سولیړی دتن بردی |

دتهذیب الوجبات له کتاب څخه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلورم کال دریمه شماره دمیزان ۱۳ د۱۲۹۴ هـ ش کال

| | |
|---|---|
| شـکر شـکر باغ موخپل باغبان موخپل دی | گل موخپل بهارموخپل بسـتان موخپل دی |
| ســروه خپلـه بلبـل خپـل چمن موخپـل دی | لاله خپل ارغوان خپل دامان موخپل دی |
| نشـــه خپلـه خمـارخپـل پیـالـه موخپلـه | بزم خپل سـاقی موخپله دوران موخپل دی |
| کلی خپل بـازار موخپل وطن موخپـل دی | ځمکه خپله رود موخپل دهقان موخپل دی |
| شـاه موخپل گداموخپل قاضـــی موخپل دی | ســپاه خپل رعیت خپل دیوان موخپل دی |
| غل موخپل قاتل موخپل مقتول موخپل دی | عســـکرخپل مفتی خپل زندان موخپل دی |
| شـــکرشـــکربیگانـه پـه میـان کې نشـــتـه | مدیرخپل اخبارموخپل دوران موخپل دی |
| عـجـب عصـــردی افـغـانـه نـظـروکړه | ژبـه خپلـه قلم خپـل بیـان موخپـل دی |

مولوي صالح محمد



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سراج الاخباردرسم الخط پرتله له اوسنی رسم الخط سره

دســـراج الاخبارپه پاڼوکې دپښـــتو خاص حرفونه نه ليدل کيږی داځکه دهغه وخت په چاپخانه کې دپښتو حرفونه نه وه دټ پرځای ت ، د ړ پرځای ر، د ډ پرځای د ، دږ پرځای ژ، د ښ پرځای ش، دګ پرځای ک او د ږ پرځای ز، راغلي دي اوکلمې هم ځینو ځایونوکې پیوستې لیکلې شوي داوسني رسم الخط سره مغایرت لري چه موضوع په لاندې مثالونوکې په ښه ډول سره ليدلای شو:

| دسراج الاخبار رسم الخط | اوسنی رسم الخط |
|---|---|
| لکم | له کومه |
| دير | ډېر |
| مژ –منز-مونک-منک | موږ |
| جوان –ځوان | ځوان |
| زور | زوړ |
| پشتانه | پښتانه |
| کژدی | کيږدی |
| سوی | شوی |
| يه | يې |
| چه | چې |
| که | کې |
| سری | سړی |
| لمری | لومړی |
| تول | ټول |
| مکری | مه کړی |
| لژ | لږ |
| پعالم | په عالم |
| کوره | ګوره |
| کمه | کړمه |
| ځمونک-زمنز | زمونږ |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| اوسنی رسم الخط | دسراج الا خبار رسم الخط | اوسنی رسم الخط | دسراج الاخبار |
|---|---|---|---|
| اخلی | اخی | خوږ | خوژ |
| ژړل | زرل | غږ | غژ |
| کړ | کي | ونړوينه | ونروينه |
| دواړه | دواره | ورځ | ورز |
| هوښيار | هشيار | ترکو | ترک |
| هوسيږی | استيژی | لوړه | لوژه |
| کيږی | کژی | کوچنی | کچنی |
| پنځه | پنزه | رښتيا | رشتيا |
| ځينی | زنی | ځمکه | زمکه |
| کښته | کشی | ځان | زان-ثان |
| زما | ځما | گنهگار | کنه گار |
| غوندی | غندی | څونه | سونه |
| جغرافيه | جيوگريفی | په دی | پدی |
| شي | سی | په خپل | پخپل |
| موږ | منز | بی خبر | بيخبر |
| کي | که | اوسيږم | اوسيژم |
| برخه | بخره | په ملک | پملک |
| څوک | سوک | په کار | پکار |
| شپون | شپان | پوهيږم | پوهيگم |
| پادشا | پادشه | ساتندوی | ساتن دوی |
| کومه | کمه | په ده | پده |
| ځل | ثل | غټ | غت |
| ځکه | څکه | ځوان يم | ثوانيم |
| ذکر | سکر | کړم | کم |
| مو- می | م ا | ورځ | روز- ورخ |
| ځالی | ثالی | خپل | اخپل |
| نکړی | نکي | وموښه | وموژه |
| | | | |

اوسنی رسم الخط دسراج الاخبار رسم اخط اوسنی رسم الخط دسراج الاخبار رسم الخط



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| له تا | لتا | ګل | کل |
| هومره | همره | ګرځيدل | ګرزيدل |
| ځای | ثای | فوځونه | فوجونه |
| کې | کش | ځلمی | زلمی |
| پښو | خپو | افګار | افکار |
| رسيږی | رسيکې | مه کوی | مکوی |
| هوسيږی | هوسيکې | سترګی | استرګی |
| لمر | نمر | زړه | زله |
| کړمه | کمه | ځکه | زکه |
| ښکاره | شکاره | نامه | نام |
| سپاه | سپه | خښ | خش |
| ليکې | لکې | نښلی | نخلی |
| ثان | سان | هلکان | هلوکان |
| ميږه | ميره | دوزخ | دوژخ |
| څه کوی | څيکوی | موز | موژ |
| ځلانده | څلانده | ځينی | څينی |
| ځی | څی | | |



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نتيجه

دافغانســـتان دفرهنګي ژوند په لوړ تيا کي يوبل عمده عامل دامیرحبیب الله خانه په دوره کې دهغو فراريانو راســتنيدل وو، چې دامیرعبدالرحمن خان له خواتبعيد شــوئ وو، هغوی هيواد ته له راستنيدو وروسته داذهانوپه تنويرکي ستره ونده واخيسته او دمعاصرو ادبياتو پربنســټ ايښــودلوکي يې مهم نقش درلود. د دغوکســـانوپه ډله کې محمود طرزی او غلام محمد الدين افغان په خاصه توګه دیادوني وړ دي.

دتجدداوروښـــانتيا ددورې ادبيات دملي ارمانو دعرادې په توګه دفرهنګ پرمخ بيولوته وقف شـوئ وو. په دې کې شـک نشته چې دمعاصـرادب ترڅنګ کلاسيک ادب اوفلکوري ادب دواړه په خپل قوت پاتې وو. خومعاصـرادب دمحتوی اوپيغام ددرلودلوله کبله نورادبي جريانونه له خپل عنعنوی اهميت څخه وغورځول، معاصـــر ادب ديوه متعهد اورســـالتمند ادب په توګه دټولني په خدمت کې په کارواچول شـــو، په هيوادکې دمزمن فقر،بيســـوادی، اداري فســاد ،ظلم اوبې عدالتی عموميت، ټول وطن پالونکي اوپرازادی مين روښـانفکران دې تـه وهڅول چې دمنځنيوپيړيو درکود دلـه منځـه وړلولـه پـاره حـاده مبـارزه پيل کړي. ادبيات دخلکود ذهنونودروښـــانولودپاره اســـتخدام کړي او ولس دغفلت، بې خبری اوبی تفاوتی ددرانه خوبه راويښ کړي، دپښـــتوژبې او ادبياتو دپراختيا اوپرمختګ له پاره زمينه برابرېده، په همدې وخت کې په لره اوبره پښـــتونخواکې دپرداســـي ځوانان موجود ووچې دنويو علمونواوارو پايي ادب مطالعه يې کړې وه نوادبي ژانرونه اوفورمونه يې پيژندلي وو، دخپل خيال داظهارله پاره يې نوې لارې په نښـه کړې وې، اودپښـتو دلرغوني ادب په پراخه بنسټ يې دپښتو دنني ادب مانۍ پيل کړه. که څه هم انګريزي استعمار په ۱۸۹۳ کال کې دډيورنډ په تحصيلی کرښې سره دافغانستان دخاورې يوه برخه له اصلی پيکرڅخه بيله کړه، خوويې نشـوکولای چې دپښـتنو دګډوارمانونو، ګډو ارزښـتونو اوګډو وياړونو ترمنځ دبيلتانه کرښـه وباسـي. دفرهنګ په سـاحه کې دلته اوهلته په يوه وخت کې حرکت پيل شـو، ددغه حرکت مخکښان دټولني روښانفکران وو،په افغانستان کې (سراج الاخبارافغانستان ) دمولوي عبدالروف کندهـاري لـه خوا (۱۹۰۶) دجنوري پـه يوولســـمـه نيټـه راووتلـه خودهمدغې لومړی ګڼې له خپرېدولو وروسته جريده بنده شوه، ددوهم ځل له پاره (دسراج الاخبارافغانيه) په نامه په (۱۹۱۱) کې محمود طرزي په مديريت اومشـری خپره شـوه په همدې وختونوکې په لره پښـتونخواکې هم دپښـتو دمعاصـرادب دپراختياپه لاره کې ګامونه پورته شـوي وو. په (۱۹۱۰) کې دافغان دجريدې دخپرېدوسـره سم په پښـتو ادب کې نوي ژانرونه باب شـــول، اودراحت زاخيلي، فضـــل محمود، عبدالمالک فدا، غوندې ليکوالو اوشاعرانودمعاصرادب زړي وکرل .



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمود طرزي او عبدالرحمن لودين په سـراج الاخبار افغانيه کې دپښتو مضامينو اوشعرونو خپرولوته په اګاهانه توګه پاملرنه اړولي وه، ددغو تولو اوښتوسره سره دپښتوغزل محتوى هم په دغه دوره کې تغير کړئ دئ او غلام محى الدين افغان لومړنى سړى ووچې په غزل کې يې وطني مسايل ورځاى کړه لکه :

زړه زمـا ډک دى لـه مـيـنـې دوطـن
خـپـل وطـن مـاتـه عزيـزدى تـرخـپـل تـن
هـريـوګـل مـې دوطـن پـه مـاډېـرګـران دى
تـرکشـمـيـره تـرپـاريسـه تـرلـنـدن
شـيرين ځـان مي پـه شـيرين وطن فـدادى
زه خـودارنـګـه فـريـاد يـمـه کـوهـکـن

اخـردعـادافـغـان داده اى صـاحـبـه
چې اسـلام صـاحب دجاه کړي ذوالمنين

مولوي صـالح محمد ددې دورې بل تکره شـاعرهم په شـعر ځه ناځه وينې کړي دي.ددغې دورې په شعرونو کې دنوى دوران د پيليدوزيرى ورکړ شوئ دئ ددغې دورې داد ب مخکښان او شاعران دادي:

مولوي صـالح محمد کندهارى ، غلام محى الدين افغان ، مولوي عبدالواسع کندهارى عبدالعلي مستغني ،عبدالهادي داوي ، سيدمحسن کندهارى ،عبدالسلام ،عبدالرحمن لودين اونورنومونه ديادوني وړ دي.

ددغې دورې په شعرونو کې دوطن مينه ، دخپلواکې جذبات ،داسارت اوبندګي پرضد ،داعتراض غږ، دطبيعت دښکلا ترسيم ، په ټولنه کې دانسان موقف ، دده دژوند شرايط دپوهې سطح اونورمسايل ځرګند شوي دي، داوه دسراج الاخبار هغه خدمت چې پښتوژبې ته يې کړئ دئ. دهغه وخت شـاعرانو دخپلې ژبې اوخپل ادب له پاره دپرهلې ځلې کړي، اونورخلک يې دپښتو ژبې پراختيااوپرمختيا ته ځيرکړي دي دغه ادبي نهضت په خپل وارسره دپښتو ژبې اوادبياتو له پاره لاندې خدمتونه کړى:



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- پښـــتانه شـــاعران اولیکوالان یې هڅولي چې خپلې ژبې اوادبیاتو ته خدمت وکړي اوډېرشاعران یې روزلي دي.

۲- سراج الاخبار دافغانستان په ابیاتوکې یونوی تحول رامنځ ته کړئ دئ.

۳- دخلکو شـــعورتـــه یې وده ورکړه اوخلـــک یې دخپـل هیواد دازادی اوخپلواکی داخیستلواوساتلو له پاره هڅولي دي.

۴- دخلکو په فکري اوښتون کې یې دقدر وړ کارونه ترسره کړي دي .

۵- دپښـــتوژبې دپراختیا اوعلمي کولو له پاره یې ډېرې هلې ځلې کړي دســـراج الاخبارپه پاڼوکې دښـــتو ژبې اهمیت اوارزښـــت په ډاګه څرګندشـــوئ اوداڅرګنده شـــوی چې د افغانستان ټول خلک اومختلف قومونه باید پښتوژبه زده کړي .

۶- پښتو ژبه دښووني اوروزنې دوزارت په درسي نصاب کې شامله شوه اومولوي صالح محمد ددې دورې ســـترشـــاعراولیکوال دلومړي ښـــوونکې په توګه دحبیبی په لیســـه کې مقررشو.

۷- ســـراج الاخباردپښـــتو نظم اونثرته خپله غیر خلاصـــه کړه اوهغوته یې په خپله غیرکې ځای ورکړئ دئ.

۸- په سراج الاخبارکې نه یوازی دپشتو معاصرادب پرمختیاکړې بلکې دکلاسیکې دورې شاعران یې معرفی کړي اودهغوی اشعاریې نشرکړي دي .

۹- دپښـــتو ژبې فلکورته یې هم توجه کړې چې ۱,۴ فکلوري مشـــهورمتلونه دغلام محی الدین افغان له خوا په سراج الاخبارکې خپاره شوي دي.

۱۰- دسراج الاخبارپه پاڼوکې شعر دشعر پرځای پاته نشودجریدې په وروستی پلان کې دمینی اومین ځای دژونددرپښتینواصولووینو پوهه ،خپلواکي ،ملي غروراونوردافغانستان په هنري ادبیاتوکې رامنځ ته شوه.

کومه دشـــعرونو ټولګه چې مایه دې کتاب کې راوړې که چیرې نوموړی شـــعرونه په دقت سره ولوستل شي پورتنی ټول مسایل چې ذکرشول، په ډاګه په دې شعرونو کې لیدل کیږی اوپورتنی خبری په اثبات رسوی . په افغانستان کې سراج الاخبار افغانیه په پاڼوکې په غزل کې دنوښـــت څرکونه اونویو موضـــوع ګانو ځایونه لیدل کیږي. لکه دخپلواکی، پرمختګ، دفکرونوخپلول اونور. په پیل کې دغه نویوالئ له یوډول شـــعري کمزوریو هم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډک وو،مثلا دسراج الاخبارپه پاڼو کې دصندلۍ له پاره (صندلۍ غزل) په نوم شعرهم کښل شوئ، ددغه دورې په شعرونو کې دنوي دوران دپیلیدو زیرې ورکړ شوئ دئ.

په درناوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخځليکونه

۱- دسراج الاخبار بیلابیلی اته کلنی جریدې

۲- دافغان یاد- دکابل پوهنتون –دژبواودابیاتو پوهنځی-۱۳۶۳ کال

۳- دغلام محی الدین افکار اواثار- دکابل پوهنتون دژبواوادبیاتو پوهنځی

۴- دپشتو معاصرادبیات اوسنی دوره پوهنوال ډاکتر زیورالدین

درسی لکچرنوټ ۱۳۵۸ کال

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**